بسم الله الرحمن الرحیم

# کتاب پیژندنه


**د کتاب نوم:** بانکي تصدي

**څانگه:** بانکداري

**مولف:** عبدالغفور امینی

**ژباړن:** قاری محمد حلیم

**د څار کمېټه:**

- محمد آصف ننگ د تخنیکي او مسلکي زده کړو معین
- دیپلوم انجنیر عبدالله کوزابي د تعلیمي نصاب رییس
- محمد اشرف وحدت په تعلیمي نصاب کې د معینیت د مقام سلاکار

**د تصحیح کمېټه:**

- محمد احسان احسان
- عبدالمتین حمیدی

**د گرافیک او ډیزاین څانگې مسئول :** محمد جان علیرضایي

**گرافیک او ډیزاین:** محمد سلیم خان

**چاپ کال:** ۱۳۹۲ لمریز کال

**تیراژ:** ۳۰۰۰

**چاپ ځل:** لومړی

**وېب پاڼه:** www.dmtvet.gov.af

**برېښنالیک:** info@dmtvet.gov.af

**کې ISBN:** ۹۷۸۹۹۳٦۳۰۰۵۵۲


Ketabton.com

د چاپ حق  د تخنیکي او مسلکي زده کړو له معینیت سره خوندي دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ملي سرود

دا وطن افغانستان دی — دا عزت د هر افغان دی
کور د سولې کور د توري — هر بچی یې قهرمان دی
دا وطن د ټولو کور دی — د بلوڅو د ازبکو
د پښتون او هزاره وو — د ترکمنو د تاجکو
ور سره عرب، ګوجر دي — پامیریان، نورستانیان
براهوي دي، قزلباش دي — هم ایماق، هم پشه یان
دا هیواد به تل ځلیږي — لکه لمر پر شنه آسمان
په سینه کې د آسیا به — لکه زړه وي جاویدان
نوم د حق مو دی رهبر — وایو الله اکبر وایو الله اکبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پوهنې وزير پيغام

**ګرانو زده کوونکو، محصلانو او درنو ښوونکو!**

د يوې ټولنې وده او پرمختګ کاملاً د همغې ټولنې د پياوړو کاري کادرونو، بشري قوې او ماهرو فکرونو په کار او زيار پورې تړلي دي. همدا بشري قوه او کاري متې دي چې د هيواد انکشافي اهدافو ته د رسيدو لارې چارې طی کوي او د يوه نيکمرغه، مرفه او ودان افغانستان راتلونکی تضمينوي.

انسان په خپل وار سره د الله تعالی له جانبه او هم د خپل انساني فطرت له اړخه مؤظف او مکلف دی چې د ځمکې په عمران او د يوه سوکاله ژوند د اسبابو او ايجاباتو د تکميل لپاره خپل اغيزمن نقش، همدارنګه ملي او اسلامي رسالت ادا کړي.

له همدې ځايه ده چې د يوه ژوندي او فعال انسان نقش، د خپل ژوند د چاپيريال او خپلې اړوندې ټولنې په اړه، تل مطلوب او په هيڅ حالت کې نه نفی کيږي او نه هم منقطع کيږي.

په ټول کې د پوهنې نظام او په خاصه توګه د تخنيکي او مسلکي زده کړو معينيت مسووليت او مکلفيت لري چې د اسلامي ارزښتونو، احکامو او همداراز معقولو او مشروعو قوانينو ته په ژمنتيا سره، د افغانستان په انکشاف کې فعاله، چابکه او موثره ونډه واخلي، ځکه دغه ستر او سپيڅلي هدف ته د رسيدو په خاطر د انساني ظرفيت وده، د حرفوي، مسلکي او تخنيکي کادرونو روزنه او پراختيا يو اړين مقصد دی. همدا په تخنيکي او مسلکي زده کړو مزين تنکي ځوانان کولی شي چې په خپلې حرفې او هنر سره په سيستماتيک ډول د هيواد انکشاف محقق او ميسر کړي.

جوته ده چې په افغانستان کې د ژوند تګ لاره، دولتداري او ټولنيز نظام د اسلام له سپيڅلو احکامو څخه الهام اخيستی، نو لازمه ده چې زموږ د ټولنې لپاره هر ډول پرمختګ او ترقي بايد په علمي معيارونو داسې اساس او بنا شي؛ چې زموږ د کارګر نسل مادي او معنوي ودې ته پکې لومړيتوب ورکړ شي. د حرفوي ظرفيت جوړونې تر څنګ د ځوانانو سالم تربيت او په سوچه اسلامي روحيې د هغوی پالنه نه يوازي پخپل ذات کې يوه اساسي وجيبه ده، بلکې دا پالنه کولی شي چې زموږ وطن پخپلو پښو ودروي، له ضعف څخه يې وژغوري او د نورو له سياسي او اقتصادي احتياج څخه يې آزاد کړي.

زموږ ګران زده کوونکي، محصلان، درانه استادان او مربيون بايد په بشپړه توګه پوه شي، چې د ودان او نيکمرغه افغانستان ارمان، يوازې او يوازې د دوی په پياوړو متو، ويښ احساس او نه ستړي کيدونکي جد او جهد کې نغښتی او د همدغو مسلکي او تخنيکي زده کړو له امله کيدای شي په ډيرو برخو کې د افغانستان انکشافي اهداف تر لاسه شي.

د دې نصاب له ټولو ليکوالانو، مولفينو، ژباړونکو، سموونکو او تدقيق کوونکو څخه د امتنان تر څنګ، په دې بهير کې د ټولو کورنيو او بهرنيو همکارانو له مؤثرې ونډې او مرستو څخه د زړه له کومې مننه کوم. له درنو او پياوړو استادانو څخه رجامندانه هيله کوم چې د دې نصاب په ګټور تدريس او فعاله تدريب سره دې د زړه په ټول خلوص، صميمي هڅو او وجداني پيکار خپل ملي او اسلامي نقش ادا کړي.

د نيکمرغه، مرفه، پرمختللي او وياړمن افغانستان په هيله

**فاروق وردګ**
**د افغانستان د اسلامي جمهوريت د پوهنې وزير**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړليک


| څپرکی | سرليکونه | پاڼې |
|---|---|---|
| لومړی | بانک او بيلانس يې يا (بانکی بيلانس) | ۱-۸ |
| دويم | بانکي عمليات | ۹-۲۰ |
| دريم | د قيمتي پاڼو خپرول | ۲۱-۲۴ |
| څلورم | د سوداگريز بانک اعتبار او تگلاره | ۲۵-۳۰ |
| پنځم | د بانک د مديريت اصول | ۳۱-۳۸ |
| شپږم | بانکي نظامونه | ۳۹-۴۶ |
| اووم | په افغانستان کې بانکداري | ۴۷-۵۲ |
| اتم | عموميات | ۵۳-۶۶ |
| | سرچينې او اخيستنې | ۶۷ |
| | د ښوونيز نصاب د پراختيا د رياست پيغام | ۶۸ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مقدمه**

په دې کتاب کې تر ډېره هڅه شوی ده تر څو په اقتصادی سیستمونو کې د پیسو پر څېړنې سربېره له هغو لارو چارو چې مالي سازمانونه لکه بانکونه، د بېمې شرکتونه، د پانګې اچونې اومشترک صندوقونه و دېته ورته نور داسي، اوهمدارازمالي بازارونه لکه دقیمتي اوراقو بازار، دبورس بازار او ازاد بازار چې په هغې عمل کوي ځواب وړاندې کړی شي. مالي سازمانونه اوبازارونه  نه یواځې داچې زمونږ ورځنی ژوند تراغېز لاندې راولي بلکه په اقتصادي سیستمونو کي دسترو مبلغونو د موندلو د جریان لامل کیږي. چې هغه پخپل وارسره دشرکتونو په سود، د اموالو په تولید او خدمتونو او ان دهېوادونو د اقتصادي وضعې په ښه کیدو باندي اغېز پرېباسي ،او ان کله هم دټاکنوپایلې تضمینوي٠دپیسواوبانکدارۍ یا دبانکي تصدۍ اومالي بازارونوپه اړه مطالعه د ډېرو ارزښتناکو اوپه زړه پورې مسایلو په درک کولوکې مرسته کوي. په دې کتاب کې په همدې ډول پوښتنې مطرح شوي دي، اود هغوی د اهمیت په اړه د ګڼو متخصیصنو له خوا لیدلوري وړاندې شوی دی. ډېردخوښۍ ځای دی، چې دافغانستان دښوونې او روزنې محترم  وزارت د لومړي ځل لپاره دظرفیتونو د ودې پخاطرپه داسې لاروچارو لاس پورې کړی دی.

په اخیرکې باید یادونه وشي چې نوموړی کتاب له اتوڅپرکیو څخه جوړی شوی دی، هره انساني چاره له نیمګړتیاو څخه خالي نه وي. دغه راز دکتاب لیکنې کار اوپروسه ستونز من کار دی لدې کبله له ټولو زده کوونکو اومحترمو ښوونکو څخه هیله کیږي ترڅو په دې اړه مرسته وکړي او خپلی ګټوری مشورې د یاد کتاب په بډاینه کې را سره شریکی کړې.

په درناوی

عبدالغفور امیني

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د کتاب ټولیزه موخه:**

د بانک په اړه معلومات او د هغه دپـیدایښت لاملونه تـشکیلوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی څپرکی

## بانک او بیلانس یې یا (بانکی بیلانس)

**ټولیزه موخه:**

د بانک په هکله معلومات اودپیـدایښت لاملونه یې تشکیلوي.

**د زده کړې موخې:** د دې څپرکي په پای کې به محصلین لاندې موضوعات توضیح کړای شي:

- بانک دتاریخ په اوږدوکې.
- دبانکونو موخې.
- دبانکــدارۍ علـم.
- پېـرودونکوته دخدمـتـونو وړانـدي کول اود ټـولـنې په اقتصاد کې یې اغېـزې.
- مالي سازمانونه.
- دپېـړیو په اوږدوکې دبانکـدارۍ چارې.

**بانک او د هغه پیـدایښت**

بانک په یویشـــتمه پیـړۍ کې داقتصاد په هرم تکیه وهلې اوهرڅه چې دي کولای شي بانکي لاســته راوړنې وي. همدغه بانک دی چې راکش کاړي یي اودسیاســت دفرمان شــته والی اونشـتوالی تعینوي.

په اوسنیو پیړیو کې داقتصادي فعالیتونودڅانګې خورا مهمه څانګه بانک دی. څکه پرته له ســالمې بانک دارۍ او بانک څخه نشې کېدای یو سالم اقتـصاد ولرو. دې عجیبې پدیدې له کومه وخته راهیســې شــکـل نیـولی اوڅرنګه یې انکــشاف موندلی دی؟ دپورتني سوال پــه ځواب کې پــه مختـلفـو څانګوکې ځینې خبرې دي چې باید په پام کې یې ونیســو۰ په دې هکله هـم متفاوت نظرونه دي۰ دبانکــدارۍ دتاریخ پاڼې دوه نظره مونږته انځوروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- اروپایــان چې ځان په دې هکله مخکښ ګڼي. د دې پــدیــدې دپیل نیټه همغه اروپا بــولي چې هغه دعلم دپیــل ځای ګڼل کیږي. المانی بانکــداران بیا ادعا کوي، چی بانک له المانی لغت بامک څخه اخیســتل شــوی. چی المانی ریښــه لري. او په ټوله نړی کی اوســمهال په بانک نومــول کیږي. اوپه همدې ترتیب هغوی پــه دې عقیده دی چې د لومړي ځل لپاره بانک اوبانکــداري دالمان په هیــواد کې منځ ته راغلي دي. اما ایټالویان خپــل ځــان ترنورو یوګام مخکی ګڼــي اوبانکي اوپولي حرکت د پوهانــو د تفکرزېږنده اودخپلو ښاریانو د تجربو لاسته راوړنی بولي تجارب ګڼي دهغوی عقیده پیاوړی منطق وړاندي کوي.

ایټالویــان پــه دې کارټینګار لري چې د لومبارد قومونه چې دایټالیا په شــمال کې ژوند کوي لومړني قومونه وو چې دبانکدارۍ په چاروکې یې غوراوفکروکړ. هغوی په لومړني ځل د صرافۍ کار ته د یوې کټورې چارې په توګه انکشاف ورکړ٠ دهغوی دکړنې چل داسې وو چې یوشي ته به یې دخپل ځان په مقابل کې قرارورکاوه اوپری به یې صرافي ترلا ســه کوله٠ له کوم مېز څخه چې به په همدې موخه اســتفاده کېده دبانکو په نامه به یادېده، چې ور وســته ور وســته د داســې معاملاتو دترسره کولوځای هــم په بانکو مشهــور شو او تر نن ورځې پورې مو د بانک په بڼه موندلی دی.

- په یونان کې بانکــداري تر میلاد څلور پیړۍ مخکې دا راښــیي چې معابد په دې هکله مخکښ وو، او د هغوی دلیل هــم پر لاندي عواملو ولاړ دي.
- دصرافۍ کار دمعابدو دفعالیتونو اوچارو یوه برخه وه.
- دخلګو دامانتونو دساتنې لپاره به معابد خورا ډاډمن ځای ګڼل کیده.
- اسیایي ستر تمدنونه هم په دې زمینه کې سترې لاس ته راوړنې لــري چې دنړیواله تمدن په وده کې یې ډېره ستره اغېزه لیدلای شو.
- داسیایي تمدنونو له جملې څخه بابل یو خورا سترتمدن په ډېروموارډوکې دحرکت زانګو وه. بابي شــاهانو په دې هکله ډېر دپام وړاقدامات تــرسره کړې دي٠ اوله هغې جملې څخه په 1800 ق م کې حامورابي شــپږم ساســاني شاه د ســود قانون او د تجارتي قرضې بنسټ کیښود، چې په حقیقت کې لومړی بانکي قانون ګڼل کیــږي.

نن ورځ چین د بشري تمدن په وده کې لوړ مقام لري اوهــم یې داقتصاد په هکله ترنن ورځې پورې ډېر څه سرته رســولی هم دي. دې لرغونې هیواد ترمیلاد شــپږ پیړۍ مخکې بانکــداري تجربــه کړي ، که څه هم چینایان تر نن پورې پــه دې هکله داورپایانو په پرتله

(c) ketabton.com: The Digital Library

غړ نه دی پورته کړی. ولې څه چې مســلم دي هغه دادي چې په دې هیواد کې بانکداري پــه همغــه زمانه کې دود وه ،اوپه همدې ترتیب کولای شــو ووایو چې شرق په لومړي ځل دپولي وســایلو په تبادله او د پولي وســایلو په تنظیم کې بانکـداري دودکړي ده اوباید هغه په اخلاقي جرأت سره ومنو.

**دپیـړ یو په اوږدو کې دبانکـدارۍ چارې**

په ننۍ مانا د بانکدارۍ بنســټ په منځنیوپیړیو کې ایښــودل شوی دی. او په دې زمانه کې یهـودیان دبانک چلوونکې و.

ولې یهـودیان په دې عرصه کې مخکښـې وه ، علت یې په څه کې پټ وه ؟

دغه قوم له ډیر پخوا څخه په ګټور تجارت اوسوداګرۍ باندي بوخت و.

ایدلوژیکي اومذهبي مما نعت یې نه درلود او برعکس د داســې کار په پیاوړیتوب کې یې مرســته کوله اوکــړې یې ده، که څه هم تورات په څــو ځایونوکې منع کړی، خو د ګټې تحریم یوازې د یهـودو لپاره راغلي دی.

په تورات کې راغلې دي:

که د زما له قومه یوه فقیرته چې ستا ګاونډی دی یوڅه نغدی پیسې په پور ورکړې نو د سود خور په شان له هغه سره چلند مکوه او هـیڅ ګـټه پرې مه ږده.

په یوبل ځای کې راغلې دي:

(( له هغه ورور څخه دې ســود اوګـټـه مه اخلــه اوله خپله خدایه و ویـریـږه ترڅو د ورور له تاسره ژوند وکړي.))

په یو بل ځای کې داسي راغلې دي:

(( خپل ورور ته پور په سود مه ورکوئ. نه د سپـینو زرو او نه هـم د ا ذوقي په سود او نه هـم د نورو شــیانو په ســود. غریب ته کولای شــې په سود باندي پور ورکړې اما خپل ورورته په سود باندي پور مه ورکوئ.

مسیح د سود په باب خپلو پیـروانو ته داسې وویل:

له خپلو دښمنانو سره محبت او احسان وکړئ، او پرته له بدلی او امید پور ورکړئ، ځکه چې ښایي ستاسو اجر به ډېـر ستر وي.

اود اســلام مبارک دین هـم پدې هکله لارښــوونه کړي. دنساء دسورت 141 آیت او په سورة بقره کې 278 او 279 آیتونو کې په څرګند ډول سره یاد ونه شوي ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې هکله لطفاً داسـلامي بانکـدارۍ بحث ته مراجعه وکړئ. د بانکـدارۍ د داسـې رويې په نظر کې نيولو سره په سر کې له ځينو ستـونزو سره مخ کيږو چې د بانکي تحرکاتو پـخ والی په هغه دورو کې ښـايي وليدل شي. دې چلند پـه اروپا کې تر 1593 ميلادي کال پورې ادا مه پيدا کړه. خو په دې کال کې سـود لرونکې معاملې له پانګو سره هـم انتـقال ومونـد، ترکومه ځايه چـې دولتونو او ان نهم پاپ په 1840 ميلادي کال کې عملاً دسـود دمعنې حکم مات کړ.

**تعريف:** بانک عبارت له هغه محل څخه دی چې هغه نقدي ودايع چې د دويم ځلي استـرداد دځانګړتيا درلودونکې دی او له خلګو څخه دپور اوپانګې اچونې په موخه يې قبلوي.

له پورتنې تعريف څخه داسـې څرګنديږي چـې بانک دمحل له مخې کومې دندې چې ترسره کوي يو ټاکلی انځور وړاندې کوي.

بانک له هغه ځای څخه عبارت دی. چی له خلکو څخه نقدی پيسې اخلې او بيرته يې د وام (قرض) په توګه ورکړی. دخلګودغه تصورداسترداد وړدی.

دپورتنۍ وينا په نظرکې درلودلوسره کولای شو بانک داسې تعريف کړو:

بانک له هغې مؤسسې څخه عبارت دی، چې دسهامې شرکت په بڼه دهر هېواد دتجارت له قانون سره سم بانکي چارې مخکی بيايی.

په دې تعريف کې لاندې موضوعات دبانک دتشخيص لپاره په نظرکې نيول شوي دي:

الف ــ بانک دنورو مؤسساتو په څېر يوه مؤسسه ده.

ب ــ دغه مؤسسه دسهامي شرکت په بڼه عمل کوي.

ج ــ بانکي فعاليتونه دتجارت دقانون پربنسټ تنظيميږي.

### د بانکـدارۍ علم

دبانکــدارۍ دعلم په چوکات کــې دټولوفعاليتونوتنظيم اوبانکــي کړنې لاره هواروی، ترڅومونږ وکولای شو چې دبانکـدارۍ علم دنورو علوموپه څېر تعريف کړو.

دبانکـدارۍ علم دبانکي کړنو دپيـدايښــت له څرنګوالې اود دغوکړنود تکاملي ډولونوله بقا څخه دی،اويا په بل عبارت بانک دهغې واســطې يوه مؤسسه ده چې د اشخاصو وجوه اصـولاً د امانت ترعنــوان لاندې مومي اودغه وجوه دپور په اشــکالو، اعتبار، دتجارتي برات تنزيل او هـم دقيمتي اوراقو پيـرودنه معر في کوي.

دغــه علم دنورو علومو په شــان نشي کولای په يــوازی ډول اوپرته له ټولو علومو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېرحرکـــي وي بلکه د خپلـــو حرکاتو لپاره د نورو علومو دبرخو دهـمغږۍ لپاره احتیاج لري چې عبارت دي له سیاست ، اروا پوهنې، جامعه شناسۍ، محاسبې، ریاضي، حقوقو اوتجارت څخــه اوحتّــی د روحیاتو علم دټولــو اقتصادي، تکنالــوژۍ ځانګو په څنــګ کې دبانکي فعالیتونو په څرنګوالي کې دپام وړ مؤثریت لري.

دبانک موخې:خورا عمده پوښــتـنـه چې کیدای شي د بانک په اړه ښــايي مخې ته راشي دغــه ده، چې بانکونه کومې موخــې تعقیبوي اودغی موخی څرنــګـه د ســتـــه بـنـدي کولای شو.

دبانکونو په بحث کې په ټولیـز ډول له دوو عمده برخو څخه نوم اخستلای شو:

۱- د پـېـرېـدونکو لپاره دبانکي خد متونو ترسره کول.

۲- د سهم لرونکو سرمایه دارانو لپاره د زیاتي ګټې لاسته راوړل.

دپـېرېـدونکو لپاره دبـانکي خدمتونو تر سره کول دبـانک له لومړنیـو موخو څخه ګڼل کیږي.

پخـپله اساســنامه کې دهغې دثبت الزام لري او دیوه اصل په حیث هغه وړاندي کوي. ولې تعهد دغه دی چې سود یا بانکي ګټه باید له بانکي لګښـتونو څخه ډېره وي. متوقعه موخو ته د رسېـدلو په خاطر باید لاندي ټکی په نظرکې ونیول شي.

- دپـېـرودونکــو د وجوهــو راټولونه او دهغوی په کاراچول او د دور نما اوبشـــپړ پـس منـظــر پــه پام کې نیول تر هغــو شرایطو لاندي چې دبرخه والو ګټــی لړتر لړه تامین کړای شي.
- د ټولوبانکونو اومؤسساتو د اعتبار جلبولو لپاره کوښښ.
- د نمایند ګیو تأسیس اوتوسعه په غوره شرایطو او د خورا ښو خدماتو په وړاندي کولو سره.

ټــول بانکونــه یوازې د بانکي خد متونو د وړاندې کولــو او د خلګو دهڅه ونې له لارې دهغوی د نقدي شتمنیـو په را جلبولو سره کولای شي دبانک موخې سرته ورسوي۰

دیا دونې وړده چې بانکي فعالیتونه تخنیکي عمل ګڼل کیږی او زیاتره بانکي فن غواړي. په دې اړوند کیدای شي موخوته درسېدنې لپاره له لاندي فعالیتونو څخه کار واخستل شي.

- دټاکلو اومشخصو موخو تشـخیص.
- دستـونـزو په ګوته کول.
- له په ګوته شویو ستـونـزو څخه د وتلولاره.
- بانکي دوراندیشـي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- له فرصتي لګښتـونوڅخه تېښتـه.
- اوبالاخره دکاري سـتـراژيکي پلان درلودل.

دپـورتنـيـو مشـخصاتو په درلودلو سره يقـيـناً بانک کولای شي ترڅوځپلو موخوته ورسيـږي.

لــه دې موخــو څخه د يوې موخــې دعـدم اجرا په صــورت کې يا دغيرمتعادل شــويو بانکــداري موخوتر منځ عـدم موازنه اويا د وروســته حرکتونــو امکان يابيـخي دريږي اويا هـم له سستۍ سره مخ کيـږي٠

موخې عمـدتاً په بانکي تعهداتوکی شـاملې دي چې هــر بانک يې د خپلو پېـرودونکو لپاره وړانـدې کوي او کومه پوښــتنه چې په دې هکلــه را پـيدا کـيږي داده، چې د ټولنې اوخلګو په وړاندې بانکي تعهدات د کومو اړخونو درلو دونکې دي؟

په دې هکله لاندې مواردو ته ګوته نيول کيـږي.

- په مناسبه او منل شوي طريقې سره د خلکو د اړتيا وړ خدمتونو وړاندې کول.
- د هوساينې او تأمين لپاره مرسته.
- دټولنې په ګټورو فعاليتـونو کې ګډون اوبرخه اخيـســتنه په مناسبې اوښې طريقې سره د بانکي خد متونو تدارک کولای شي د يوه بانک ژوند او پا يښـــت تضمين کړي ، او د تدارکاتو ښې لارې چارې منځ ته راوړي اونومورې لارې چارې عبارت دي له:
- دبانک اداره بايد په ښه طريقه سره فعاليتونه ترسره کړي، تر څو د ټولو هغو کسانو ګټې پکې تضمين شي، چې برخوال دی اوهـم د بانک پـايـښت تأ مين شي.
- بانکي سياســت بايد دمتوا زينې پا ملرنې پر بنسټ د رو انو عواملو اومسايلو له مخې تـنـظيم شي.
- د مشتريانو داما نتـونو دساتلو په موخه پلـټنه او کوښښ کول.
- د غوښـــتنـې په مهال د مشـــتريانو د تقا ضاوو منل د روايتی امانتونو په مقابل کې او مثالونه يې.

پس ويلای شــو چی د بانکي کړنو او د بانکي امکاناتو لپاره د يو داســی چوکاټ جوړول چــې وکولای شي په ســمه او دقيقه توګه فعاليت وکړی، مهــم دی. نو ځکه د لاندې عواملو موجوديت اړين ګڼل کيږی.

دغه عوامل کېدای شي د بانکي حرکت د ځنځيري عواملو په نوم ونوموو دا هم بايد له پامه و نه غورځوو چې پرته داساسي قانون له شتوالی بانکـداري ناشونی کار دی.

هغه عمده او مهم عوامل چې وکولای شي دسالمو بانکي فعاليتونو اوکړنو ترسره کولو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

لار پرانیـزي هغه عبارت دي له:
- اساسي قانون
- د پیسو اوبانکـدارۍ قانون
- د مرکزي بانکي قانون ، د دولتي بانکونو قانون اود خصوصي بانکونو قانون
- د بانکي ستراتـیـژۍ پلان
- بانکي پالیسۍ اود هغوی نورې بېلګې

**د لومړي څپـرکي د مطالبو لنـډیز**

په دی څپرکي کي د بانکدرای تاریخ او دهغې لومړنیو فعالیتونو ته یوه لنډه کتنه شوي، ورپســې د اروپایانو، ایتالویانو، بابلیانو او چینایانو د بانکدارۍ د طریقې یادونه شــوي ده. دغه راز د پیړیو په اوږدو کې د بانکدارۍ فن تر بحث لاندې نیول شوی. او د بانک په هکله ګڼ تعریفـونه ترسترګو کیـږي.

د بانکـدارۍ دعلم خلاصه او بانکونو عمده موخې یا دې شــوي او دهغوی کره اوعمده موخې عبارت دي له مشتریانوته د خد متونو وړانـدي کول او د زیاتې ګټې لاس ته راوړل د پانګې دبر خې د څښـتنانو لپاره یوه مرور او کتـنې صورت نیولی دی ، او د سالمو فعالیتونو کړ نلا رو چې لار پرانیـزي یا دونه شوي ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د لومړي څپرکي پوښتنې

۱- په لومړي ځل بانکداري په کوم هېواد کې منځ ته راغلې نوم يې واخلئ؟
۲- د ايټالو يانو نظرد بانکدارۍ په هکله څه وو شـرح يې کړئ ؟
۳- با بـليـانو د بانکدارۍ په هکله څه نظر درلود تشـرح يې کړئ ؟
٤- د تاريخ په اوږ دوکې د بانکدارى په هکله اسيايي لاس ته راوړنې څه شـى دي واضح يې کړئ ؟
٥- ګټه د تورات له نظره تـشريح کړئ ؟
٦- بانک تعريف کړئ ؟
۷- د بانک کره موخې څه شـى دي و يې ليکئ ؟
۸- هغه عوامل چې وکولای شي د سالمو بانکي کړنو ترسره کولو ته لار پرانيـزي کوم دي، تـشـريح يې کړئ ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دویـم څپرکی

## بانکي عملـیات

**ټولیزه موخه:**
د لیـتر آ ف کریدت او د هغو د ډولونو له تـشـریح څخه عبارت ده.

**د زده کړې موخې:** د دې څپرکې په پای کې محصلین باید لاندې موضوعات توضیح کړای شي:

- د پیـسو تجارت
- د وخت له پلوه کریـډ تونه
- داعـتـبار حد او درجه
- داما نتونو ډ ولونه
- داما نتونو د زیاتوالې طریقې
- دتنـزیـل عملیه ، مجد د تـنـزیـل اویا مکرر تنـزیـل ، دنرخ تـبادله
- زېـرمې او د زېـرمو ډ ولونه

### بانکي عـملیات

مخکــې تر دې چې بانکي عـملیات ترمطالعې لاندي ونـیـســو غواړو یا دونه وکړو چې هغه څـه شـی دی چې د بانکي عـملیاتو چوکاټ تـشـکیلوي.

امانــات، روان حســاب ، د اعـتـبار اعطا، برخو یا اســهامو او نــورو قیمتي اوراقوته اړ ونــده عـملیات ، د وجوه نقل او انـتـقال دهـیواد په د نـنـه او بهرکې، اسـعاري معاملات ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

د قیـمتــي فلزاتو معاملات، تضمیـن او د ضمانت صـدور، له کروندګرو سره مرســته، ګروي صنعـــت، تجارت، حمل او نقـــل او نورې هر ډول معاملې چې د قانــون له نظره مغایرت ونـلـري. بانک پوهانو ټولې بانکي عملیې په لاندي یا دو شویو برخو تقسیم کړې دي:

۱- د پـیـسو تجارت

۲- اعـتـبـاري یا کرېډېتي عـملیات

۳- بانکي مالي عـمـلیات

۱- د پـیـسو تجارت په صرف تعبـیـر شوی او صرف مو لکه څـنـګه چې مطالعه کړ د زیاتولو اوبېـرتــه ګرځولو په مانا دی نوله همـدې کبله کومه مانا چې ورکړل شــوي، کیدای شي صرف د داخلی او خارجی پیسو ټول عملیات په ځان کې راونغاړي.

۲- کردیـد تي اعـتـبـاري عملیات: کرېډیـدتي اعتباری عملیات د کریدت د پیـسو په کتاب کې مطالعه کولای شو اوکرید ت د داسې تعریفوو:

کرید ت په حال یعنې په اوســني پـېرکې داشــیاوو او خدماتوایـښـود نه او په راتلونکې کي د هغو بیرته ورکړه د ګټی په نوم توپیر سره.

اود زمانې له نظره کرېدیـد ت اود هغو ډولونه په داسي ډول تقسیمولای شو:

الف-  لنډ مهاله کرېـد تونه.

ب -  منځ مهاله کرېـد تونه.

ج -  اوږد مهاله کرېد تونه.

د روانوحســابونوله نظره کریېدت: د روانوحســابونوله نظــره کریـد تونه کېـدای شي په لاندي ډولونو تقسیـم شي:

- دمال التجاره کریـد تونه
- ساده کرید تونه
- د قیـمتي او راقو کرېد تونه
- د منـلو کرېدتونه
- بورسي کردیـد تونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د استعمال له نظره کرېدتونه کیـدای شي په د وو کتګوریو تـقـسیم شي.

- سرما یوي کرید تونه
- استـهـلا کي کرید تونه

**نومبادرکریـد تونه**

په بهـرني تجارت کې کرېـد تونه:

- د اکریـد تیـف کرېد ت
- د ریـمبـاروس کرېد تونه

په دې هکله د هغو کرید تونو د ډولونو یادونه شوې چې په ورځنیو بانکي معاملاتوکې ورڅخــه کار اخیســتل کیږی، او په لاندي ډول تقســیم کیـږي هغه ضمانـت شــوي یا تاید شــوي اعـتبارنامه چې د ټولو اړونده حوالو ضمانـت پدې سره کیږي. د غیـر قابل فســخې اعـتبارنامه هغه ده چې د ټا کلي وخت تر ختـمېدو مخکې نشې فسخ کېدای.

فســخ نه منونکې اعـتبارنامه یا د فسخې نه وړ اعـتبارنامه هغه ده چې د ټا کلې وخت تر ختـمېـدو مخکې نشې فسخ کېدای.

فســخ منونکې اعـتبارنامه یا د فســخ وړ اعتبارنامه هغه ده چې هروخت یې د فســخ کېـدو امکان وي

ضمانت شــوي فســخ نه کېدونکې اعتبارنامه عـبارت له هغې اعتبارنامې څخه ده چې دالغا یا فسخ وړ نه وې او ضمانت یې هـم شوی وي.

هغه اعتبارنامه چې ضمانت یې نه وي شوی هغه ده چې ضمانت یې نه وي شوی او له مخه یې یو اعـتبار منځ ته راغلی وي خو صاد روونکی بانک یې د ورکولو ضمانت نه کوي.

متحدالمال اعـتبارنامه هغه ده چې کوم شخص، مؤسسې یا ټا کلي بانک ته نه وي متوجه. کله چې مستـفید ( رانیوونکی ) وجه وغواړي چې له هغه څخه کارواخلي نوباید یوه وسیله پیداکړي ترڅو د داسې معاملې په ترسره کولو موافقه و کړي.

پرانیســتې اعـتبارنامه دا ډول اعـتبارنامه ځانګړې شرایط په برکې لري اوهغه وخت ور څخه کار اخســتل کیـږي چې وغواړي پرته د ســند له وړاندي کولو یا د هغې حوالې چې د اعـتبارنامې په مقابل کې صاد ر شوی وي تادیات صورت ونیسي.

تجــد یـد کېد ونکې اعـتبارنامه هغه ده چــې اعـتبارېې د حوالې د صدور په اثرپخـپله

(c) ketabton.com: The Digital Library

تجـد يد شي. دغه ډول اعـتبارنامه عموماً هغو تـاد یاتوته د سهـولت بـښلو په موخه د ګرځنده سیارو نمایند ه ګانو په واسطه چې په هر ځای کې عملي کیـږي کار ترې اخستل کیـږي.

ســفري یا مســافرتي اعـتبارنامه هغه ده چې د هر یوه معاملــه لرونکې بانک لوري ته متـوجــه وي اوله دې بانکونو څخه مســتـفیـد هر بانک ته حاضریـــږي او خپل ځان د هغه امـضاشــوي کارت په واســطه چې صاد روونکې بانک ورته ورکړی دی معرفي کوي اوله هغه اعـتبار څخه چې مخکې ورته تـثبیـت شوی دی د حوالې د صدور په وسیله استـفاده کوي. د دې اعـتبارنامې له جملې څخه هغه مبالغ چې مستـفید یې اخلي په اعتـبارنامه کې تـثـبـیـتیـږي.

**د اعـتـبـارحد او درجه**

**د اعـتبار حد:** هر بانک د خپلو پیـرو دونکو لپاره په ټا کلې اندازه سره کرید ت پرانیزي، او د یوه ټا کلې مبلغ اجازه پیـرودونکي ته ورکوي په هماغه اندازه چې د اعـتبار په نوم سره مسمّی دی. په دې هکله باید یا دونه وشي په هغه صورت کې چې داسترداد وجوه واخستل شي د کرید ت اخســتونکې له لورې په هره اندازه چې وي په هماغه اندازه د وباره کریدت ایجا د یــږي اوکریدت اخسـتونکی کولای شي مجـدداً له اعـتبار څخه اسـتـفاده وکړي.

**د اعتـبار درجه**

د اعتبار درجه د بانک پروړاندې د مشتري (اخیستونکی) د تعهداتو په ترسره کولو پورې تړلې ده، چې پـیـرو دونکې کولای شي د همدغه خصوصیت پر بنسټ یې په لاندې ډولونو باندې تقسیم کړي.

الف- لومړی درجه اعـتـبار.

ب - دویـمه درجه اعتـبـار.

ج- دریـیـمه درجه اعتـبـا.

چـــې دغــه اعتـبارونه د مقدارله لحاظه سره توپـیـر لـــري، اود اعتبار درجه کولای شي د بانک د رهـبـرۍ د پلاوي د تصامیمو په اثر داندازې له لحاظه متـفاوت صورت ونیسي.

**بانکي مالي عملیات:** بانکي مالي عـمیات په دوو کتګوریو باندې تـقسـیمولای شو:

۱- پــه بانکي لنډمهاله عملیاتو کــې درې موضوعات د قیمتي پاڼــو د پلورنې او پیرودنې شاملې دي.

۲- په بانکي اوږد مهاله عملیاتو کې د شرکت د سهامو پیـرودنې او پلورنې اود هغوی امثال

(c) ketabton.com: The Digital Library

شامل دي خو په هرصورت په عمومي توګه په بانکي مالي عملياتو کي درې برخې شامليـږي.
الف - بانکي اوږد مهاله عمليات
ب - بانکي لنډ مهاله عمليات
ج - د قـيمتي اوراقو خپرول
پـورتنې بانکي لنډ مهاله عمليات په لاندې موضوعاتوکې خلاصه کيـږي

**۱-** امانتونه اوجاري حســابونه: امانتونه اوجاري حســابونه د بانکونــو لپاره خورا مهم دي. ځکــه د بانک د اقـتصــادي ځانګې د يـرو پوهانو هغه د بانک دبقا اســاسي شرط بللى دى٠ د دې موضوع په هکله خبريو چې بانک مشـــتريانو او حقوقي شــخصيتونو ته د ورســپارل شــويو شــيانو د راټولولو له لارې بانکي فعاليتونو خدمات تنظيموي. او دغه امانات په حقيقت کې د هغوکريد تونو داجرا امکانات چې د بانک لپاره ګټور فعاليت دى ميسرکوي، د کريدتي عـملياتو زياتېدل اوکمېدل د روانو اماناتو اوحساباتو په اندازې پورې تړلې دي.

**۲- د اماناتو ماهيت:** د اماناتو اطلاق اکـثراً په هغو مبالغو کيـږي، چې د يوې ټولنې افرادو پــه امانـت ايـښــې وي، چې درلودونکى يــې کولاى شي د اړتيا په مهــال له هغه څخه اســتفاده او په کومه اندازه چې دى پخپله غواړي واخــلي. د نړۍ په ټولو هيوادونوکې امانـتونه په دوو برخوتقسميـږې.
**۱-** رويتي امانات
**۲-** ميعادي امانات

رويتي امانتونه عبارت له هغو امانتونو څخه دي چې درلودونکى يې پخپل لاس کې شته مبالغ د يوې مودې لپاره په بانک کې ږدي او بانکـدارى يې په مقابل کې تعهد لري چې په هر وخت اوهر مهال يې ورکوونکى دى.

ميعــادي امانــات ځرنګه چې يې له نامه څخه ځرګنده ده د ټا کلې وخت لپاره په بانک کــې ايښــودل کيـږي او بانک پرته له دې چې هغه خپل ټا کلــى مبلغ به ورکوي يوه ټاکلې ټکټانــه فېصدي يا يوه معينه ګټه به پيرودونکې ته ورکــوي٠ دغه امانات معمولاً د قيمت لرونکو اماناتو په نامه هــم يا ديـږي.

**امانات له مخکينۍ اطلاع سره:** يو تعداد امانات دي چې برداشــت يې د مخکنۍ اطلاع پــه اثر امکان منونکې دى او پرته له هغه څخه مخکينۍ اطلاع نشــې کولاى له پرانيســتي حســاب څخه څه واخلي. پــه دې هکله د مخکينۍ اطلاع نېټه حد اقــل پينځلس ورځې د اخيستنى له ورځې څخه مخکې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**معيادي امانات**

معيادي امانتونه د ثابتو امانتونو په عنوان يا دپانګې اچونې په عنوان نو مول کيـږي.

معيادي امانات په حقيقـت کې د بانک او مشتري په منځ کې يو کتبي مالي قرارداد دی۰ له قرارداد سره سم پېرودونکی موافقه کوي چې د نغدو د وجوه ټاکلی مبلغ د ټاکلې مودې لپاره بانک ته وسپاري۰ او متقابلاً بانک متعهد کيـږي چې د امانتونو اصل اوګټه چې په سر رسيد لې پيـرودونکې ته په نغدي ډول ورکړي ياد پيرودونکي روان حساب کريـد ت کړي.

په حقيـقت کې د لوړې ګټې نرخ د پېرودونکې انګېزه د قرارداد په انعقاد کی قرار لري. معيادي امانت له بانک سره وي.

څرنګه چې پېـرودونکی خپل سپارل شوی و جوه چې په سررسېدلی له بانک څخه ترلاسه نکړي يا د قرارداد په اوږدولو سره اقـدام ونکړي، قاعدتاً د سر رسيد د انقضاء له نېټې څخه ګټه په سپارل شوي مودې پورې ښايي تعلق ونه نيسي بانک د وجوه اخسـتلو په قبال کې د سپارل شوي سند په رسېد لوکې د پېرودونکې په اختيارکې يې ورکوي.

ثابته سـپارنه له رواني سپارنې سره په مقايسه کې او له بانک څخه پس انداز په مراتبو پور مصرفوی. اما متقابلاً ثابتې سـپارنې له دې امتياز څخه برخورداره وي چې بانک کولای شي ټول ثابت سـپارلی مبلغ د قانوني ذ خېرې له کسر کېدو څخه وروسته تجارانو اود پور د سرچينو څـښـتنانوته ورکړي يا پانګې اچونې ته اقدام وکړي. تجارتي بانک د روانو سپارنو په هکله نشـې کولای ورته اقدام وکړي لکن تجارتي بانک د جاري سـپارنو په هکله ورته اقدام کـولای شي، او بايـد د نغدو له وجوهو څخه همېشــه د بانک په کتله کې د ځواب ورکونې لپاره د سپارښــتونو د څـښـتنانو په در خواست سره قاعدتاً روان ديدار بايد وي۰ د بانک او پيـرودونکې په منځ کې اړيکې حياتي دي.

دپام وړ د حساب پرانيـستنې له وخته د قرارداد انعقاد او موافقت نامه پيـلـيـږي.

**د روانو حسابونو او اماناتو د زياتېدلو طريقې او لارې چارې**

هر بانک په دې لټه کې دی چې داسې لارې چارې وپلټي ترڅو وکولای شي ډېر امانـتـونه بانک ته جمع کړي اوډېر حسابونه له دې لارې څخه پرانيزي.

پـه دې اړه بانکونه د بانکي څانګو په توسـعې سره په ټولـو هغو نقاطوکې چې بانکي کار د ضرورت احسـاس پکې وی په هغه ځای کې د خپلو بانکي فعاليتونو د توسـعې اقدام وکړي۰ له پامه بايد ونه غورځوله شي چې په دې اړه هم د مناسب حالت په نظر کې نيولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېـر عمده او اســاسي دي او موضــوع  باید جداً په نظرکې ولرو· د بانک توســعه د بانکي څانګو له لارې هغه هـم د سیاســت په چوکاټ کې نشې کولای مطلوب فعالیت د بانکونو لپـاره چــې د مطلوب مفاد د ایجــاد ضامن دی منځ ته راوړي. او پــه ډېرو مواردوکې حتّی ممکن تاواني او زیانمن شي.

د بانکي نمایند ګیو لوړ لګښــت پرته له ســنجش او ارزونې څخه او هغه هـم تر سخت رقابت لاندې زیانمن دی، چې باید په تد بیر سره یې مخه ونیولی شي.

ولــې په هر صورت که ســم بانکي مدیریت په د قیــق ډول سره کاروکړي، او ټولې پلان شــوي چارې تنظیم کړای شي کېدای شي نو یوه ښه طریقه وګڼل شي، که څوک له دې طریقې څخه په ښه اوغوره ډول استفاده وکړي نو پخپل بانک کې به یې موفق مدیریت پلی کړی وي.

د افرادو هڅونه د بانکي حســابونو په پرانســتـلو کې او د افرادو د پیســو د راټولولو طریقــه له دوی څخه بانکــي څانګو ته جایزې او دهغوی د اجــرا لارې چارې کولای شي د حساباتو او اماناتو په زیا تېدلوکې بانکي لارې چارې خورا مؤثرې ګڼل کیـږي اوترکومه ځایه چې لیدل کیـږي ښه پایله یې ورکړې ده.

**تـنـزیل:** تنزیل د بېلا بېلو نظریاتوله مخې کېدای شي مختلف تعریفونه ولري.

- هغه مبلغ چې له یوه قرض یایوه برات څخه د هغې د بیرنۍ ورکړې په نسبت وضع کیـږي.
- د وجهي قېمت اود بازارد قېمت ترمنځ تفاوت په هغه صورت کې چې وجهي قېمت یې څه لوړوي د تنزیل په نامه یادیږي.

د تنزیل په عملیه کې عموماً د حال ارزښت سنجش ته پریږدي اوپه حقیـقت کې د پولي ارزښــتونو افاده کول مصارف عواید یا هـم د مصارفو او عواید و ترمنځ تفاوت چې د زمانې له مختلفـو نقاطو څخه واقع کیـږي.

**د تـنـزیل عملیه:** لکه څرنګه چې د تنزیل په اړه وویل شــول چې تنزیل په حقیقت کې د پولي ارزښتونو افاده کول مصارف اوعواید اویا هـم د هغو مصارفو اوعوایدو ترمنځ تفاوت چې په بیلابیلو وختونوکې پېښیږي· بانکونه د عملیې په تنزیل کې په ډېره هوښـیارۍ سره بایــد خپــل کارونه تنظیم کړي ځکه چې دغه عملیات په هغه صورت کې چې په جدّي توجه سره عملي نشي امکان لري چې یوازې یو بانک په بېلارۍ نه بلکه ټول سیستم ښایي فلج کړي.

د تنظیم عملیه باید له یوې تجارتي او راکړې ورکړې له معاملې څخه را پورته شوي وي. دا پــه دې ماناده چې د تنزیل عملیه څرنګه چې داخیســتنې دقدرت ایجادوونکې او یاهم زیا توونکې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مکرر یا مجدد تنزیل:** د تجارتي اسـنا دو تنزیل چې مخکې تـشریح شـو. دغه اصطلاح معمـولاً د تجارتي بانکونو په اړه چې په مرکزي بانک کې ذخیره لري، اوخپل اسـناد د خپلو پېرودونکو د غوښـتنو د پوره کولولپاره په مرکزي بانک کې تـنـزیلوي استعمالیـږي۰ مرکزي بانک له پولي او بانکي سیاستونو سره سم د پولي حالاتو په نظرکې نیولو سره د تنزیل عملیې په اجرا او یاعـدم اجرا باندي لاس پوري کوي.

که چیري مرکزي بانک دې پایلي ته رسـېدلی وي چې په ملّي اقتصاد کې د انفلا سـیون حالت د غوړېدلو په زیاتولو سره یوڅه ممانعت جوړه وي ، او په حقیقت کې په هیـواد کې د پولې وړاندي کېـدلو د زیاتوالې مانع ګرځي.

**د تبادلې د نرخ تـنـزیل ، د ارزښـت تـنـزیل:** څرنګه چې د یو پولي واحد په اړه تنزیل استعمالیـږي.

د فلزي محتویاتو له لـږوالې څخه موخه یو پول ده چې د قانون په واسطه تعیـنـیـږي. همداراز د پیسو د ارزښت ور کونه یوه ملت لره د بل ملت د پیـسو په مقابل کې د ارزښت تنزیل ویل کیـږي.

دغه ډول ارزښـــتـونه یـا د تبادلې نرخ عموماً په اخـتیاري اوخوښـی سره قطع نظر له واقعي ارزښـتونو څخه چې وجود ولري تعیـنـیـږي او همداراز امکان لري له خپلې خوښی سره سم تغییر ورته ورکړل شي.

دیا دونې وړده چې داسـې موضوعات لکه تنزیل، تجارتي تنزیل، د ګټې تنزیل، د اضافي ګټې تنزیل، د نغدو تنزیل او داسـې نورې بېلګې یـې هـم وجود لري چې د درس په لړکې به ښایي ورته اشاره وشي.

**بانکي اوړد مهاله عملیات**

په دې ډول عملیاتو کې بانک معمولاً په لاندي ډول عملیاتو پیل کوي:

۱- بانکي اچونې ته د اعتباراتو ورکونه.

۲- مـالي عملیـات د مالي مؤسسـاتو دایجاد په ډول اوپه اقتصادي مؤسسـاتو کې د برخې اچونې شرکتونه.

د بانکـي اعتباراتو ورکړه چې په بانکونو کې له خورا څرګندو ویناوو څخه یوه وینا ده۰ کولای شي په سم مدیریت اوسالمې حسابی سره د بانک لپاره خورا ستره ګټه راوړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اوږد مهاله اعتبارات**

دغــه اعتبــارات په حقیقــت کې د اعتبــار چارې دي. ویــل کیـږي چې وخــت یې له پـینځوکلونو څخه زیات وخت په برکې نیولی اوتر دوولسوکلونو پوري وي.

دغه اعتبارات هغه ساحات ترخپل پوښښ لاندې راولي چې د شتمنیو د ایجاد ځانګړتیا په صنعت کې بنسټیز ساختمانونه په زراعت کې او په مجموع کې بنسټیزې پروژې باید ولري.

د تولیدي ســاختمانونو ایجاد، صنعتي ماشــین آلات، بنســټیز او مواصلاتي ساختمانونه، مصنوعــي ځنکلونــه، د ژوروڅاګانوکیندنه، رهني اعتبارات چې د کــور پېرودنه اویا هــم د کورجوړونــه په پام کی ده او تولیدي سیســتم تــه تغییرورکــول د دې ډول اعتبارپه برکې نیوونکی دی.

د دې اعتباراتــو وخــت په ځینو وختونوکې کیدای شي ترپنځه ویشــتو کلونو پورې هــم اوږد شي. دغه چاره زیاتره د ځنګلونو په ساحه کې صدق کوي.

**د پس انداز ډولونه:** په عام ډول پس انداز په دوه ډوله دی:

۱- **ارادي پس انداز:** هغه پس اندازچې قصداً اویا له پلان سره سم د مختلفو دلایلو په خاطر دافرادو په واسطه صورت نیسي خود اقتصادي مؤسساتو په واسطه د اقتصادي فعالیتونو د پراختیا په موخه اود هغوی دکسب او کار په موخه عملي کیـږي.

۲- **اجباري پس انداز:** دغه پس انداز هغه مهال رامنځته کیږي چې مثلاً حکومت د مالیاتو په زیاتوالي سره د افرا دو دلګښت اندازه اوخصوصي پانګې لره کمښت ورکوي.

په پورتنې بحث کې د پانګې اچونې له لید ځای څخه پس اندار په لاندې ډول دســته بندي کیـږي.

**د ذخیرې پس انداز:** د ذخیرې له پس انداز څخه مقصد، عبارت له هغو مبالغو څخه دي چې د لګښــت له مسیر څخه بهرشوي ولې د دې امکان شته چې دویم ځلې د پیـرودونکې دغوښتنې وړ وګرځي.

بانکي زېرمې معمولاً په دوو برخو وېشلای شو:

۱- قانوني زېرمې

2 - اختیاري زېرمې

(c) ketabton.com: The Digital Library

**قانــوني زېرمې:** هغو ذخايــرو ته ويل کيـږي چې بانکونه د قانون په حکم مکلفيت لري ترڅو د خلکو له امانتونو څخه يوه برخه په مرکزي بانک کې په امانت ډول کيـږدي ترڅو د بانکي ستونزې د ايجاد په صورت کې په امانت ورکړل شي او دبانک پېـرودونکې له خطرسره مخ نشي.

اما د زېرمو اندازه د هر هيواد د بانکي قانون له اصولوسره سم توپيرلري.

دغه زېرمې دپولي سياســت د وســيلې په حيث د مرکزي بانک په لاس د پولي تعادل په ايجاد کې د پولي ارزښت په موخه مؤثررول لري.

د دغو زېرمو په کمېدو اوزيا تېدو سره کېداى شي په بازارکې د پيســو د وړاندي کېدلو مقدار ته بدلون ورکړي.

**اختيــاري زېـرمې:** اختياري زېرمې له هغو زېرمو څخه بحث کوي چې دعادي او تجارتي بانکونو په اختيار کې وي، او بانکونه کولاى شي له بانکي تحليل سره سم د بانک د معاملاتو له مجموع څخه دي په جوړويدو يې لاس پوري کړي.

او پــه دې صــورت کې بانک بايد پــوه شي چې په يوه ورځ کې بانــک ته په څه تعداد پېـرودونکــې مراجعــه کوي، او احتمالاً په کــوم مقدار به ځينی واخــلي، اوپه مقابل کې د پېـرودونکو له لورې په کومه اندازه پـيسې د بانک کسو ته راځي.

مرکــزي بانکونه په بيېنيو حالاتو کې کولاى شي له دې زېـرمو څخه په اســتفادې سره د پولي حالتونو په تغير ورکولو کې د تغير راوستلو له لارې د پولي سياستونو په عرصه کې خپل ځان تطبيق کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د دویم څپرکي لنډیز

په دې څپرکي کې ډېر مهم او ګرم موضوعات چې په دولتي، تجارتي، اوخصوصي بانکونو کې استفاده ورڅخه کیږي تهیه شوي دي اودغه موضوعات عبارت دي له د پیسو له تجارت، بانکي او کریدتي عملیات، د مودې له نګاه څخه کریدت، د هغه داستعمال له دید ګاه څخه کریدت، د کریدتونو لیټرآف، د هغو ډولونه اود هغوی داستعمال موارد، جاري حسابات، د پس انداز حسابات، د معیادي اومفادي اماناتو حسابات،د پرانیستنې اواستفادې لارې، تنزیل، د تنزیل عملیه، مکررتنزیل، د تبادلې نرخ، اوږد مهاله اعتبارات،ارادي پس انداز، اجباري پس انداز، د پس اندار زېرمې، بانکي زېرمې لکه قانوني او اجباري زېرمې ځای شوي دي ، د لاندي موضوعاتو د هراړخیزې دقیقې مطالعې په صورت کې د حسابدارۍ او ادارې د انستیوت فارغان به ښایي د خپل کار په جریان کې له ستونزو سره مخ نشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د دويم څپرکی پوښتنې

۱- د پيسو د تجارت په اړه معلومات ورکړئ ؟
۲- د جاري حسابونوله نظره کريد تونه کوم کوم دي نومونه يې واخلئ ؟
۳- لومبارد کريد تونه په څو ډولونودي نومونه يې واخلئ ؟
٤- د بانکي عملياتو په ډل بندۍ کولو سره يې نومونه واخلئ ؟
٥- د معيادي امانتونو توپيـر له پس انداز سره څه شي دی تشريح يې کړئ ؟
٦- د پس انداز حساب په اړه معلومات ورکړئ ؟
۷- ليترآف کريد ت په څو ډولونو دي نومونه يې واخلئ ؟
۸- تنزيل تعريف کړئ ؟
۹- د پس انداز د ډولونو نومونه واخلئ ؟
۱۰- د بانک له نظره د ذخايرو د ډولونو نومونه واخلئ ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دریم څپرکی

## د قېمتي پاڼو خپرول

**ټولیزه موخه:**

د قیمتي پاڼو خپرول او د استفادې طریقه یې.

**د زدکړې موخې:** د دې څپرکې په پای کې به محصلین وکولای شي لاندي موضوعات توضیح کړي:

- د مقاطعې عمل
- د حق العمل عمل
- د قیمتي پاڼو په معاملاتو کې د کمېشن اخستنې عمل
- د اړتیا او ضرورت درجه
- د بانکي سیستم موجودیت
- د سند یکای د فرهنگ موجودیت

**قېمتي پاڼې**

د بانکونــو له لورې پر قیمتې اوراقو معاملې د بانکي کړنو په اوږدوکې د مهمو عملیاتو لــه جملې څخه گڼل کیـږي، چې کله د بانک لپاره ډېــره گټوره او کله هــم ډېره خطرنا که بانکــي عملیه ده. دغه عملیات چې د بانکي معاملاتو د حتمي حرکاتو له جملې څخه گڼل کیــږي ، له هغې جملې څخــه بانکي عملیات دي چې د خپلې پانگــې اچونې عملیاتو په چوکاټ کې په هغه لاس وهي.

د بانکي معاملې د لورې ورقې او اســناد په دې عملیا توکې کېدای شي خصوصي، دولتي او یاهم عامه قیمتي ورقې وي.

بانکونه په دې هکله په یوازې اویا هم د اتحاد یې په توگه د قیمتي پاڼو په خپرولو سره څرگند یـږي او په معاملې پیل کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بانکونــو د اتحاد يې اصطلاح د قيمتي اوراقو د انتشــار لپاره د اقتصاد په ترمينولوژي کې د قيمتي اوراقو دانتشار په سند يګايي سره شهرت لري.

د قيمتــي اوراقو پلورلو طرز کېدای شي د يوه بانک يا د بانکونو له يوې اتحاد يې څخه چې په دې هکله علاقه مندي لري صورت ونيسي.

اوس راشــئ ووينـــو، چې دغه بانکي عمل په څــه ډول عملي بڼه ځان ته غوره کوي.
بانک په دې هکله يواځې دوه عمله ترسره کوي:

- د مقاطعې عمل
- د حق العمل عمل

۱- د مقاطعې عمل پر قيمتي اوراقو باندي د تصاحب په موخه په کارېږی.

۲- په دې بانکي عمل کې ټولې عرضه شوي قيمتي ورقې په يو ځلي سره پېرودل کيـږي، او د هغې له انتشار کوونکې مؤسسې سره اړيکې قطع کوي.

د دی عمل دليل دادی چې په اوســمهال کې په معينه بيه دقيمتی پاڼو اخيســتل او په لوړه بيه يې پلورل کيدای شی د بانک لپاره يوه ګټوره معامله رامنځته کړي.

**په دې عمل کې بانک غواړي چې:**

- له انتشار ورکوونکې مؤسسې څخه د قيمتي اوراقو ملکيت بايد بانک ته انتقال ومومي.
- بانک کيدای شي قيمتي ورقې په يو مناســب قېمت او يا هم له درج شــوي قېمت څخه په کم يعنې له هغه خپل رسمي قېمت څخه يې په کمه بيه وپېـري (واخلي) او وروسته يې بيا په لوړه بيه وپلوري.
- بانکونه غواړي کنټرولي لارې منځ ته راوړي او يا يې تـقـويه کړي.
- بانک ښايي يوه عادي بانکي معامله ترسره کړي.

د قيمتي ورقو د معاملاتو د کمېشــن اخيســتنې عمل د بانکي معاملاتو له جملې څخه يــوه معاملــه ده، چې هر عادي بانکـدار هـم ورسره اشــنايي لري. بانک په يو ټاکلی وخت کې د قيمتي اوراقو پلورل ديوه کمېشــن په مقابل کې وړاندې شــوي پاڼی پلوري او پلورل يې تضميـنوي. په دې ډول قيمتي ورقې د څښـــتـن په ملکيت کې پا تيـږي او بانک يوازې د ورقو په پلورلو کې له هغو قراردادونو سره سم چې له کمپنۍ سره يې لري اقدام کوي.

**د قيمتي پاڼو نشرېدل:** د دولتي او خصوصي شرکتونو او مؤســوله لورې د قيمتي پاڼو نشرېدل له مـطمئـنو سرچـينو څخه د يوې سرچينې په حيث لاس موندنه يوه داسې پانګه ده چې مؤسســې تــل په دوامداره ډول هغه تــه اړتيا لري. دغې پانګې ته دلاس رســۍ د کړنلارې ډول کولای شي په لاند نيـو عواملو پورې نه شليدونکې اړيـکې ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د بورس موجودیت:** په هغه صورت کې چې په هـیـواد کې بورس یا مالي بازار شـــتـون ونلري  بلکه له بلې لارې باید مطالعه شي.

- د اړتیا او ضرورت درجه
- فوریت یا عدم فوریت
- د بانکي سیستم موجودیت
- د سندیکائی فرهنگ موجودیت
- د قیمتي پاڼو له ځرنګوالي څخه د خلکو خبرول

د قیمتــي پاڼو د پلورنې پربنســټ بانکونه د مؤسســاتو د غوښـــتـنـو له موندنې څخه وروسته په لاندو اقداماتو لاس پورې کوي.

- بانکي حرکات د دفـترله ګذارش سره سم تحقیق یا څېـړنه ده.
- تبلیغ یا ډ پرمصارف نه رامنځته کیږي.
- د اخیســتنې ټکې چې پیرودونکي د دغه ډول اوراقو په وســیله د بانک له لوري په ډ پـراحتیاط سره خبریـږي.
- پدې هکله ځانګړې برنامې ترتـیـبـیـږي.
- د اوراقود نه پلورنې په صورت کې یې ادا کول د بانک له لورې صورت مومې.
- بانــک غواړي ترڅو قیمتي ورقــې د مالي بازار له لورې و پلوري په دې صورت کې بانک بایـــد پــوه شي چې په هیـواد کې مــالي بازار په کوم حد کې قرار لــري او بانک څرنګه کولای شي له دې طریقې څخه ښــه اغیـزناکه اســتـفاده وکړي دغه حرکتونه عموماً په هغــو هیـوا دونو کې د پام وړدي چې په هغو هیـوادونوکې مالي بازار موجود وي او په مالي بازار کې د معاملې فرهنګ هـم موجود وي. که چیـرې د غسي اجرا موجو ده نه وي مــالي بــازار لوړترینه بانکي ګڼه د بانک لپاره د بانکي عملیاتو له لارې ایجاد وي. په دې حالت کې بانک قیمتي ورقې بورس ته په وړلو سره د غوښـتونکو لپاره وړاندي کوي. د اړونـده مؤسســې و ضعیت ته په پام سره کېـدای شي ورقې تعیـن شي، خو بانک د بیې د لوړولو د ساتنې په موخه کولای شي د بازار په میـتـودونو لاس پورې کړي۰
- په لومړۍ مرحله کې له دې اسنادو څخه کمه پیمانه بازارته وړاندی کیږي.
- د اســنادو لوړترین اوکم تریـن حد د تحقیـق د فــتـر په وړانـدیـز سره او د بانک د مد یـریت په منظورې سره تعـنیـږي.
- د دې حرکت مصنوعي حرکت او ایجاد ډېـر پېـرو دونکې تشویـقـوي. اوبلآخره د بیې د حد ســاتلو په موخه مصنوعي غوښـــتـنـې د یوې وسیلې په حیث د بانک تر پایه  پورې له خپـله ځانه سره ساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د درېيــم څپرکي لنــډيـز

د يادولو وړ ده چې په دې څپرکي کې يوازې دوه ډ وله حيا تي کړنې چې د بورس يا مالي بازار اړوند يـړي تهـيـه شوي دي اوعـبـارت دي له:

پــه مالي بازار اويا بورس کې د قيمتي پاڼوخپــرول په لومړۍ برخه کې داسي موضوعات لکــه د مقاطعــې عمل، د حق العمل عمل،د قيمتي پاڼــو ملکيت، د قيمتي پاڼو کنـترول ، د قيمتي پاڼو په معاملاتو کې د کمېشن اخستنې عمل د بانکي معاملاتو له جملې څخه ګڼل شوي دي٠ په دويـمه برخه کې داسي موضوعات لکه د فوريت د ضرورت او احتياج درجه د منظم بانکي سيســتم موجوديت اود ســنـد يکائ د فرهنګ موجوديت درج شـــوي دي، او مونــږ د قيمتي پاڼو د پېـرنې او پلـورنـــې له فرهـنګ او هـم د دې پاڼو د پلورنې له مار کيټـونو سره اشنا کوي.

## د درېيــم څپرکي پوښـتـنـې:

١- قيمتي پاڼې تعريف کړئ ؟

٢- د قيمتي پاڼو نشرځرنګه صورت مومي ؟

٣- بورس څه شی دی ؟

٤- مالي بازار کوم بازار ته ويل کيږي؟

٥- د مقاطعې عمل تعريف کړئ ؟

٦- د حق العمل عمل تعريف کړئ ؟

٧- د قيمتي پاڼوکمېشن اخـسـتـنـې د عمل په هکله معلومات ورکړئ ؟

٨- آيا په افغانستان کې د قيمتي پاڼو مارکېـټ شـــتـون لــري ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ځلورم څپرکی

## د سوداګریز بانک اعتبار او تګلاره

**تولیزه موخه:**

د سوداګریز بانک اعتبار او تګلاره.

**د زدکړې موخې:** د دې څپرکې په پای کې محصلین باید لاندي موضوعات توضیح کړای شي:

- د ینګي نقد اصل
- د منفعت اصل
- د امنیت اصل

**د سوداګریز بانک اعتبار او تګلاره**

په هرهیواد کې د هر سود اګریز بانک موخه د زیاتې ګټې لاسته راوړل وی. نو پردې اساس بانکدار باید دې پوښتنې ته ځواب ووایي، چې څرنګه د بانک پیسې یعنې مالي سرچینې د شتمنۍ یا لګښتونو په مختلفو اقلامو پورې ځانګړې کړي ترڅو زیاته ګټه لاسته راشي.

دغه د بانکداري عمده ستونزه ده، لکه څرنګه چې مو ولیدل پورونه د بانک سرچینې تشکیلوي اود هغوی د جذب لپاره د لګښتونو متحمل کیږي.

بانک د مالي سرچینو د لګښتونو په کښته راوستلوکې خصوصاً په اختیاري او ارادي امانتونوکې عمل نه کوي ځکه چې بانک د حریفانو په مقابل کې وي. د پانګې او پیسو بازار یورقابتي بازار دی، اود هر تجارتي بانک په ضمن کې د بازار له اجراوو څخه یوجز تشکیلوي٠سربېره پردې د بانکې منا بعو د جذب حد علاوه د رقبا وو د رقابت د خلګو

(c) ketabton.com: The Digital Library

شـتمني اود هغوی اعتبار اود خلگو اشـنايي په بانکي عملياتو پورې تعينوي، په بل عبارت د بانکي امانا تو وده يو حد لري ۰داسي عوامل لکه د پيسو اماده کولو مصارف د شتمن بانک لپاره د اعتماد د ځای اقتصادي شرايط اود خلگو اشنايي د امانتونو رسول محدودوي۰ پردې اسـاس د تجارتي بانک مسسـؤليـن خپلې مالي سرچينـې ټاکلې شـوي گڼي. او په دې وسيـله خپله توجه د هغو مصارفو ادارې ته چې هغه د شتمنۍ ستنې دي اړوي.

په بل عبارت د سـوداگريز بانک مديريت د بانک د پيسـو پـه تخصص کې د مختلفـو ارقامو ترمنځ د مانور لگښت قدرت لري په هـمدې دليل په هرسوداگريز بانک کې د بانک د مديريت وړتيا او کاررواييي کولای شي په يو ډول نه يو ډول د بانک د پيسو سنجش وکړي.

له پورتنۍ شرحې څخه دا راوزي چې هر سوداگريز بانک بايد يوه عاقلانه تگلاره، اعتبار او پانگونه پيـل اوهـم يې اجرا کړي۰ دغه سـوداگريز بانک بايد يو داسـې کيفيت و ټا کي چې د بانک د نهايي هدف په تأمينولو سره د امانت ايـښـودونکو د امانت اصل و ساتي. په هرحال بانک د منا بعو په تخصص يعنې د مختلفو اعـتبارونو او پانگونو په ټا کنه کې بايد لاندي درى اساسي اصله هـمېش په پام کې ولري:

١- د تازه نقد اصل

٢- د منفعت اصل

٣- امنيت اصل

**١- د تازه نقد اصل:** له دې اصل سره سم بانکـداري بايد د مالي سرچينو توزيع ته د هغوی پـه مصارفو د مختـلـفـو اشـکالو ترمنـځ ځانگړې پاملرنه ولري۰ ځکـه هره لحظه چې وغواړي کولای شي په ډېـرې تيـزۍ سره د شتـمنيـو بېلابېل ډولونه په نغدي ډول تبديل کړي، ترڅو د بانک د ټولو طلب کارانو او امانت ايـښـودونکو ته ځواب وي.

د بانک د ځينو طلب کارانو او د امانت ايښودونکو د غوښتونکو په رضايت کی د بانک د مديرانو وړتيا او قابليت د دی اصل مراعاتول دي.

لکه څرنگه چې يې مخکی يادونه وشوه، امانات د بانک د پور ونو ستره برخه تشکيـلوي. اوله اماناتو څخه هغه مهمه برخه په جاري ډول وي هره لحظه يې چې امانت ايـښودونکی وغواړي له بانک څخه يې ايستليی شي.

ترهغې پورى چې بانک وغواړی نقدي وجه د غوښـــتنې په مهال د امانت ايـښـودونکو په واک کې ورکړي. چې د بانک لپاره په دې برخه کې بې وسي ډېر خطر ناکه ده، ځکه بانک

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تعطیل او انحلال لور ته بیایي.

سـمه ده چې هره ورځ په داسـې حال کې چې یو تعداد خلګ د چک په ایـستلو سره خپله سپـارلې وجه له بانک څخه و باسي٠ بله ډله خلګ بیا خپل حساب کرید ت کوي.

اود بانک د دبت کولو او کریدت  کولو له لاري یو او بل تر خپل پوښښ لاندی راولي. امّا لازمه ده چې تجارتي بانک ارومرو د نغدي وجـهـې مبلغ د بانک په کسه کې وساتي ترڅو د پـېـرودونکود ورکړې چک له کومې سـتونزې سره مخ نشي.

د نظر دڅـښــتـنـانو یـوه برخه د بانکـدارۍ په چارو کې پـه دې با وري دي چې تازه نغـدې د بانک له شــتمنیـو څخه هغې ځانګې لره شـامـلـیـږي چې په مرکزي بانک کې د تـنزیل وړ وي.

پـه مقابـل کې یوه بله ډ له خلــګ په دې باوري دي چې تازه پور د بانک له شــتـمنیو څخه هغه ځانګه تـشــکیلوي چې فوراً په اسـانۍ او پرته د زیان له تحمل څخه په نغـدي وجهــې د تبـدیـل وړدي٠ دا چې د کیفیــت تر کیب د تازه پور اصل ته په توجه سره بایـد په څه ډول وي د بانکي جوړښــت، د ټولنـې د اقتصاد په ماهیت، د اقتصاد پولې والی اویـا غیـــر پولی والــی، له بانکونو څخه د خلګو د تلقي طرز اوعادات، د بانکـدارۍ فرهـنګ، د معاملاتوحجم، د پـیسو بازار پانګه اوداسې نور لري.

**۲- د منفعت اصل:** په بانکـداري کې دویـم اســاسي اصل د منفعت اصل دی چې بانکـدار همېـشه ورته توجه لري.

څنګه چې د تجارتي بانک موخه د ګټې دهغې اکثـره حدلاس ته راوړل دي.

نوځکه خو بانکـدار بایـد په یوداسې ډول د بانک کیفیت وساتي چې درآمد او پـورونه له مختلفو اقلامو او پانګې اچـونې څخه چې د بانک د شـتـمنیـو هغه ستره بـرخه تـشکیـلوي ترلاســه کـیـږي چې وشــې کولای د بانک د لګښــتونو د پوښــښ په ضمن کې یوه ګټه او منفعت هـم د برخه لرونکو نصیب وګرځي.

اوالـبتــه بانکــدار نبایـد د زیاتی ګټې د لاس ته راوړلو لپــاره د بانک د سرچیـنو هغې ســترې برخــې لره د څو اقلامــو پخاطرصرف کړي. ځکـه چې دغه اقلام قاعدتـًا خورا نغـد کېـدونکې اقلام دي لکه اوږد مهاله قیمتي اوراق.

د دې مــورد عکس هم صادق دی یعنې د دې اقلامو د شــتمنیو نقد کېدل چې هماغه نغـدي موجوده وجه د بانک په کېسه کې ده چې اصلاً د بانک لپاره در آمد نلري.

ځکه خو نهایي دوه حده ټا کلې شــوي د شــتمنـیو هغه اقلام چې خورا ګټور دي د نغد

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېدلو ډېر لږ خاصیت اود نغد کېدلو وړتیا نلري.

طبیعي ده چې د دوو نهایي حدونو ترمنځ د پانګې اچونې مختلفې لارې وجود لري٠ په بل عبارت منفعت اود تازه نقد اصل یو بل لره په مختلفو اړخونو کې را کش کاږي. بانکدار باید د دغو دوو اصلونو ترمنځ لازم تعادل را منځته کړی.

په خلص ډول بانکدار نشي کولای د زیاتی ګټې د لاس ته راوړلو لپاره چې یوانکار منونکی اصل دی د تازه نقد اصل قرباني کړي.

چې د داسي عمل مرتکب شي یوه سمه اود یوې عاقلانه پانګې اچونې تکلاره یې نده ترسره کړي٠ ځکه په داسي حال کې چې د شتمنیود اقلامو ماهیت قطعي دی٠ د پورونو د اقلامو قطعیت اوثبات په حتمي توګه سره مسلم نه دی٠ د بانکدارۍ د موفقیت راز دادی چې بانکدار باید د دوو اصلونو ترمنځ چې هغه منفعت او تازه نقد دی تعادل وساتي٠ یعنې په عین حال کې بانکدار باید وشي کولای د امانت ایښودونکو او ټولو طلب کارانو اړتیا په نغدي ډول تأمین کړي او د برخه والو لپاره هم یوه ښه ګټه ترلاسه کړي.

**د امنیت اصل**

دریېم اصل چې بانکدار باید په یوه وخت کې د دوو نورو اصلونوتر څنګ ورته توجه وکړي هغه د امنیت اصل دی٠ دغه اصل بانکدار ته خصوصًا د تصمیم په نیولو کې د پور ورکولو لپاره  او د دې خبرداری اعتبار ورکوي چې نه یوازې د پور ورکړه د مشخصې موضوع لپاره زیاته ګټه ورکوي بلکې د پور ورکړې ته اقدام وکړي.

د قرضې په ورکړه او پانګه اچونه کې د امنیت اصل باید مراعات شي.

په حقیقت کې د امنیت اصل د پور دغوره او اصل ګرځېدلو موضوع ده، په بل عبارت بانکدار نه باید د هغې زیاتې ګټې د لاسته راوړلو لپاره له خطره ډکو عملیاتواوشیانوته لاس ور وړي، چې کیدای شی د منابعو اصل راوړل شی او د بانک طلب کاران په خطر کې واچوي.

په خلص ډول بانکدار د تصمیم د نیولو په مهال د پانګې اچونې لپاره یعنې د مالي منابعو معرفي باید په یو ځایي توګه سره پورته دری یا د شوي اصلونه مراعات کړي.

د سوداګریز بانک رول د پیسو د حجم  په تغیراتو کې: په عمومی ډول یو سوداګریز بانک په لاندی طریقو سره کولای شي خپلو مالي منابعوته زیاتوالی ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- استـقـراض
۲- د نویو برخه لرونکو ترمنځ د ګټې عدم توزیع
۳- د نویو برخو په خپریدو سره د پانګې زیاتوالی
٤- په سر ته رسیدلو کې د ګټې له اصله د مهمو مطالبو تر لاسه کول
٥- د مرکزي بانک په انـد د سوداګریزو اسنادو د وجوه تنـزیل
٦- د قیمتي پاڼو پلورنه

ځرنګه چې لیدل کیـږي ترډې ځایه بانک په دوو طریقو کولای شي خپلو مالي منا بعوته زیا توالی ورکړي۰ یو د پور ونو د ســتنـو اقلام او دویـم د اقلامو په بدلون سره کوم چې د شــتمنیـو په ســتـنـو کې درج دي لکه د بانک د مطالباتو اصول اعم له اصلي ګټې ځخه په سر رسیــد کې.

په وروستۍ توګه ځرګنده ده، چې یواځې د بانک کیـفیت بدلون مومي.

**د تجـارتي بانکونود پیـســو پیـدا کوونکي:** ځرنګه چې پوهیــږو دخلکو په لاس کې د بانکنوټونو یا سکو ځرخیدل د پیسو حجم (c) د اشخاصو د جاري امانتونو حسابونه چې د چک په واسطه د نقل او انتـقـال وړ وي یعنې

$M = C + D$ د پیـسو حجم په ځرخیدو کی راښیې.

سربیــره پر دې هغه بدلونونه چې ســکې اود خلګو په لاس د بانکـنـوټونو په میزان کې اویا هـم په ســوداګریزو بانکونو کې د جاري امانـتـونو حجم را منځته کوي. د پیـسو حجم په ګردش کې هـم ښایي بـدلون وومومي.

$M = C + D$ په دې ځای کې ممکن ښــکاره شي چې په تجاري بانک کې د اولیه جاري حســاب د ایجــاد له لارې ځرنګــه دغه بانک له دغــو اماناتو ځخه په اســتـفـا دې سره د اعتباراتو د حجم د خپرېـد و باعث او په نها یت کې د پیســو د حجم زیا توالی په ګردش کیـږي. د دې موضوع په روښا نولوسره دا فرضوو چې د مرکزي بانک په ټولـنه کې د پـیـسو د انـدازې د بسط په موخه د دولتي پور د اوراقو د ځانګې په اخـستنې د اشخا صو په انـد اقدام کوي. له کومه ځایه چې د نغـدو پیـســو ســاتنـه د بانکونو لپـاره هیـڅ ډول لاســته راوړنه نلـري او بانک د پور ورکړې په سیـو ري کې او د ربعې په مونـد نه کې خپل لاسته راوړنه یا ګټه کوی. دې ته په پام سره بانکونو ته په تجربه سره ثابته شوي ده چې هیـڅ کله به ټول امانت ایـښــودونکی د خپلو امانتونو د وجوهو د مونـدنې لپاره بانکونو ته په یوه وخت ښــایي مراجعه ونکړي۰ نوځکه خو دغه موضــوع بانک په دې قادروي چې د امانا تــو له وجوه ځخه فیـصـدي د اضافي وجوه په ډول (نقد) زېـرمې وســاتي او پاتې امانات د اقتصادي لامل په اختیارکې د پور په ډول ورکړي او د خـپـل ځان لپاره ګټه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د څلورم څپرکي د مطالبو لنډيز**

د څلورم څپرکي په اوږدو کې د سوداګريز بانک تګلاره ياده شوي، چې د هر تجارتي بانک موخه په هر هيواد کې د زياتی ګټې لاسته راوړل دي٠ د زياتې ګټې د لاسته راوړلو په خا طر بايد لاندي موضوعات په نظرکې ونيولی شي.

- د تازه نقد اصل
- منفعت اصل
- د امنيت اصل

د سوداګريزبانک رول د پيسو د حجم په تغيراتو کې چې د استقراض، د پانګې زياتونه، د مطالباتو اصول، د وجوه تنزيل، د قيمتي اوراقو پلورنه او داسې نورو مسايلو په برکې نيوونکی دی. همداراز د خلګو په لاس کې ټول بانک نوټونه او په تجارتي بانکونو کې د اشخاصو جاري امانتونه بايد له پامه ونه غورځول شي.

## د څلورم څپرکي پوښتنې:

١- تګلاره څه ته وايې، تعريف يې کړئ ؟

٢- د زياتی ګټې د ترلاسه کولو لپاره د بانکدارۍ کوم اصول بايد مراعات شي؟

٣- د تازه نقد د اصل په اړه معلومات ورکړئ ؟

٤- د منفعت اصل په لنډ ډول تشريح کړئ ؟

٥- د تازه نقد، ، د منفعت او امنيت اصلونو ترمنځ اړيکې څه شی دي؟

٦- استقراض څه شی دی تشريح يې کړئ؟

٧- د خلګو په نزد د بانکنوټونو مقدار په کوم توري ياحرف ښو دلای شو؟

٨- د بانک په نزد د اشخاصو جاري امانات په کوم توري ښو دلای شو؟

٩- په ګردش کې د پيسو د حجم فورمول وليکئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پـنـځم څپرکی

## د بانک د مدیریت اصول

**ټولیزه موخه:**
په بانکونو کې د مدیریت له اصولي ماهیت سره پیژندګلوي او د میـتـود تحلیـل اوهـم بانکي کړنې.

**د زدکړې موخې:** د دې څپرکې په پای کې محصلین باید لاندي موضوعات توضـیح کړای شي:

- د فعالـیـت په پـروسه کې د زیـرمو رول
- د بانک د اړتیـا وړ پانګه
- د رسک اعتباري مدیـریت
- نظارت اوبررسي
- د پور په ورکړه کې د تخصص درلودل
- پر فعالیت باندې نظارت

**د بانک د مدیریت اصول**

دا چې بانک څرنګه د مدیریت د اعمالو د پورونو دشــتمنیـو پراقلامو ممکنه خورا لوړ سود لاس ته راوړي د بانک مدیرباید لاندي څلورو موضوع ګانوته پام وکړي.

**لومړی:** هغه باید مطمـئـن شي چې بانک د کافي نغدو پیـســو درلودونکی دی او کولای شي د اخیــســتنې د درخواســت په مهال له حســاب څخه د حساب څښــتنانو ته ځواب ورکوونکی وي٠

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې لپــاره چې بانک کافي پيســې په لاس کــې ولري بايد د فعاليت يــو ډول د نقـد کېدونکي مديريت په نامه يعنې په هغو شــتمنيـو کې پانګه چې د نقـد کېدونکي قدرت درلودونکی وي ادا کړي.

**دويـم:** د بانک مديربايد د خطر ميزان خورا کښــتني ممکنه حد ته ورســوي يعنې په شتـمنـيو کې پانګه اچونه وکړي چې د هغوی د سوځېـدلو احتمال ډېـر ټـيـټ وي.

**دريـم:** د بانک مدير بايد په خورا کم لګښـت سره وجوه ترلاسه کړي.

بالاخــره مديــر بايد تصميم ونيـسي چــې بانک په کوم مقدار پانګې تــه اړتيا لري او پر بنسټ يې کافي پانګه برابره کړي.

**څلورم:** د بانک مدير بايد د شــتـمنـيـو اوپورونو له ضرر څخه لوړ ګام واخلي او له شته امکاناتو سره سمه پانګـونه وکـړي.

د نقـد کېـدنې مديريت اود زېـرمو رول: اصولاً يو بانک چې کله د حســاب څـښـتن ته په مراجعې سره اويا هــم له خپل حســاب څخه پيسې اخلي او بايد يوه وجه له بانک څخه بهــر شي نو څرنګه عمل کوي٠ بانک د زياتې دارايــي درلودونکی دی، خو ټول امکانات بيا دارايي نه وي.

قانــوني زېرمه يــو برابر وي. يعنې بانک مجبور دی ترڅو پــه هروخت کې % 10 جاري امانات په مرکزي بانک کې د ذخېرې ترعنوان لانـدي وسـاتي.

پورتنــی بحث د غې موضوع لره چې ولې بانکونه د وجوهود ډېـروالې سره سره پور ياد پور اوراقو ته ترجيح ور کوي چې مازادې ذخيرې زياتې، جدی پاملرنې ته اړتيا لری. کله چې سپارل شوي له بانک څخه خارجيـري د مازادې ذخـېرې وجوه بانک لره دغه امکان ور کوي ترڅو له لاندي لګښـتونو څخه ډډه وکړي:

- له ځينی بانکونو څخه پور اخسـتنـه
- د قيمتي اوراقو پلورنه
- له مرکزي بانک څخه پور اخيستنه
- پور نه تمديـد ول اويا هــم نورو بانکونو ته پور نقلول

دپانګې اغېزه د برخود څښتنانود حقوقوپه بيا ورکونې باندې:

لــه کومه ځايه چې د بانک مالکان او څښــتـنان د بانــک د صحيح والې له طرز څخه مطمئـــن شي، هغوی خپله بايد د بانک د مفيديــت د معيارونو په هکله اطلاعات ولري. د بانکــي شــتمنيو بيا ورکونه له اصــلي معيارنو څخه ګڼل کيـږي چې په واســطه يې د بانک مفيديت حســابېږي. د شــتـمنـيـو بيا ورکونه يعنې د هرې افغانۍ سوچه سود شتمنيـو د مالياتو له کسر څخه وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library

دشتمنیو بیا ورکونه = د مالیاتو له کسر څخه وروسته سوچه سود / شتمنۍ

د شـــتمنیو د بیا ورکونې اړونده رقم د بانک د مېـــزان اړونده اطلاعات وړانـدي کوي، څکه چې ښيې په متوسطه توګه سره له هرې افغانۍ څخه د مفاد څه اندازه لاس ته راغلې ده٠ پــه هر حال مالکان غواړي ترڅو پــوه شي د هغوی د پانګونې له حمل څخه بانک د درآمد په کومه اندازه لاس موندنه کړې.

د بــل اصل له معیار څخه په اســتـفادې سره د بانک د ســود راوړنې پــه اړه کېدای شي په دې اطلاعاتوهــم پوه شــو یعنې د هرې افغانۍ ســوچه ګټه د پانګې د مالیاتو له کسر څخه وروسته.

د برخه والو د حقوقو بیاورکړه = د مالیاتو له کسر څخه وروسته سوچه ګـټـه / بانکي پانګه

**د بانک د برخه والو د خطراوبیا ورکړې ترمنځ تړاو:**

د بانک د پانګې د زیا تونې ګټه د مالکانو لپاره د ا ده چې د هغوی پانګه په امن کیـږي او د بانک د ماتې احتمال کمیـږي. ولې د بانک پانګه زیات لګښت لری. هر څومره یې چې انـــدازه ډېـره وي د برخو د څښـــتـنانو د حقوقو بیا ورکـــړه به لږه وي. مدیر باید د بانک د پانګـــې د اندازې د تعین لپاره پــه دې اړه تصمیم ونیسي چې د پانګې په کوم میزان او څه انـدازې سره د بانک مصؤنیت او امنیت تا مینـیـږي او هغې لره په لږه بیا ورکړې له ډ ېـرې پانګې څخه په را پورته شوي پانګې مقایسه کړي.

کله چې عدم اطمنان سخت شي او له قرضې څخه را پیدا شوی د درنو زیا نونو احتمال زیا توالی مومي، د بانک مدیران د پانګې د زیا توالې په اړه کوښښ کوي ترڅو برخه وال له ضرر څخه مصـؤن پاتي شي. برعکس که هغوی اطمنان ولري چې د پورونو له سوځېـدو څخه راپورته شـــوي. زیا نونه لږ دي نود بانک پا نګې ته لږ والی ورکوي او د اســـهامو د حقوقو ضریب لوړ بیایي ترڅو د برخه والو د حقوقو بیا ور کړه زیا توالی وموميِ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د بانک د اړتیا وړپانګه:** د ډېرو لوړو لګښـــتونو د شـــتون په ســـبب د پانګې ســـاتـنـه (دهغـو دلایلـو په بنسـټ چې همـدا اوس مو یا د کـړل) د بانک ډېـــری مدیـران د دې غـوښـتونګې دي چې لـږه پانګه وسا تي. نوله همدې مخې دولـتونه د امانت ایښود ونکو د منـا فعو د سـا تلو پخا طر یوڅه مقـررات د بانکونو د پانګې د هغه اقل حد په اړه وضع کوي، او بانکـونه مکلف دي ترڅو خپله پانګه له هغه خپل قانوني حد څخه ډېـره وسا تي.

د بانک د پانګې مدیـریت: که چیـرې بانک متوجه شي چې د برخه والو د حقوقو ضریب ډ ېـر زیات دی او بانک د پانګې له نظره کمبودي لري ( څکه احســاس کوي چې د حســاب کوونکو غوښـــتنوته په ځواب ورکولو سره د وجوه د برداشـــت کولو په مهال قادر نه دی، او یا دا چې د اړتیا وړ پانګه نلري. کولای شي د کم والې له لارې خپلې پانګې ته زیا توالی ورکړي.)

کولای شي د لږ والې له لارې د ډک سود د کټې وېشلوته زیاتوالی ورکړي او هغه د پانګې په حساب منظور کړي.

کولای شي په هماغه اســطحه نظر وکړي د پورونو د لږ والې له لارې یا د قیمتي اورا قو په پلورلو سره د لاس ته رغلو وجوهو په کارولو سره د پورونو د لږ والې لپاره باید د شتمنیـو میزان ته کمښت ور کړي په اوسنیـو کلونو کې ډ ېـری له بانکونو څخه د پانګې له کمښـت سره لاس او ګریوان دي او د شتمني د ودې په محدودولو مجبور شوي، په اخېرو کلونو کې د بانکونو دغه اقدام د پورونو او د اعتباراتو د حجم د کمښت لامل ګرځیـدلی.

**دریســـک اعتباري مدیریت:** لکه څرنګه چې د شـــتمنیـو د مدیریت د عمومي اصولو په اړونـــده بحث کـــې مو وویل· بانکونه باید خپل پورونه افـــرادو یا شرکتونوته ورکړي، چې د هغوی په بشپـړې بیا ور کړې باندې اطمنان ولري ترڅو وکولای شي په زیات سود باندې لاس برې شي. اقتصادي مفاهیم (د نامناســـبو ټا کنـــو) اود اخلاقي خطر په نومونو باندې د عمل چوکاټ وړاندي کوي چې کېـدای شي هغه ته ورسیـږ د اعتباري او مشکوک الوصل پورونو ریسک دغه کم حد لره درک کړي. په بازارکې قرضه د (د نامناسب انتخاب) مساله له هغه لوري څخه مطرح شـــوي چې ډېر خطر لرونکي شرکتونه (یعنې هغوی چې په ډ ېـر احتمال سره د پور له بیا ور کړې څخه ناتوان پا تې کېـږي.)

معمـــولاً هغوی دې چې د پورپه اخســـتنه کې له نورو څخـــه زیات ټـینګار کوي. یا په بـــل عبارت هغه چې په ډ ېـراحتمال معکوســـه پا یله راوړي هغه کســـان دي چې په ډ ېـر ټـینـګار سره پور اخلي· پور اخســـتونکې شرکتونه او اشـــخاص چې د زیات خطر لرونکي پانګونې طرحې اجرا کوي، که چیـرې پخپل کار کې بریا لې شي نو په ډ ېـره ګټه اوړي او په همدې دلیل زیات تمایل پور اخستنې ته لري، په هرحال د پور ورکونکې بانک له پلوه دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډول شرکتونه  نامطلوب ترینه پېرودونکې دي ځکه چې په ډ ېر زیات احتمال نشې کولای خپـــل پورونه بېرته ورکړي له کومه ځایه چې شــونې ده د کریدت پــه بازارونو کې قرض اخیســــتونکې اشــخاص یا شرکتونه په داسي فعالیتونو پیـل کوي چې د قرض ورکوونکې له پلوه معـقول اویا مطلوب نه دي. د (اخلا قي خطر) مسأله منځ ته راځي. په داسي  شرایطو کې د دې احتمال ډېر زیات دي، چې پور اخسـتونکی د سود د بیا ورکړې او یا هم د پور د اصل په ورکولو کې پا تې را شي.

**ځارنــه او نظـارت:** ترکومه ځایه چې په اعـتـباري بازارونو کــې پور ورکوونکې (له پور اخســــتونکو سره په مقا یســه کې) د پانګونې له فرصتونو او هغو فعالیتـونو څخه چې یې پور اخـســــتونکی شـخص یا شرکت تر سره کوي خبرنه دي د (متـفـاوتواطلاعاتو) موضوع مطرح ده. د داسې وضعې شتون د دې لامل کیـږي چې بانکونه له اطلاعاتو سره په تړاو په د وو طریقـو عمل وکړي.

ځارنې او نظارت ته په حقیـقت کې، د بانکـدارۍ حرفه یعنې د اطلاعاتو تولـیـد هم ویلای شو.

**بررسي:** د مســئلې شــتون (نامناســب انتخاب) په اعتباري بازارونو کې دا ایجا بوي چې بانکونه له خطره ډک درخواست کوونکې باید له نورو درخواست کوونکو څخه تفکیک کړي ترڅویــې پورونه ګټـور شي٠ بانک د دې لپـاره چــې و کولای شي دغه کار په یوه اغېـزناکه طریقه سره ترسره کړي.

نو باید له مـتـقاضي شرکـتـونو یا اشـخاصو څخه د اطمنان وړاطلاعات راټول کاندي٠ د اعـتـباري ریســک د مدیریت له اصولو څخه یو مهـم اصــل د اطلاعاتو راټولونه او څېـړنه ده٠ کله چې یو نفـر بانک ته مراجعه کوي. اود موټـر یا کور لپاره د شخصي پور غوښـتـنـه کــوي نو لومړنی هغه شــی چې یې تر سره کـړئ هغــه دادی چې د ځانګـړې ځواب لـیـک فورم ډک کړئ اود خپل مالي وضعیـت په هکله د قـیـق اطلاعات وړاندې کړئ.

پــه دغه ځواب لـیـک کــې بایـد د قـیـق اطلاعات، د حقـوقو میـزان، بانکي حســابونه ټولې شــتـمـنۍ او نور پورونه بایـد ذ کر شي. همـداراز د شــخص سوابـق باید د قرضې اود مـیـا شتنی ور کړې د توان له نظره قیـد شي. د یا دونې وړده چې د پوراخیستـنې شرایط د عمومیاتو په برخه کې تشریح شوي.

کله چې بانک تجارتي پورهم ور کړي. نو باید اطلاعات راټـول کړي، او خپل شرکـتـونه باید له خطره ډک شرکـتـونو څخه بېـل کړي. بانک د سود اود درخواست کوونکې د شرکت د زیان په هکله اوهمـداراز د شــتـمـنیو او پورونو په هکله یې اطلاعات راټولوي اود درخواســت کوونکې د شرکت احـتـمالي موفـقـیـت هم ارزوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د پــور پــه ورکـړه کې د تخـصص درلــودل:** د بانک له اصــلي ځـانګـړتـیا وو څخه یوه هــم دا ده، چې اغـلـباً یــو بانک په پور ورکړه کې محـلي شرکـتـونو یا هغو شرکتونو ته چې په ځانګــړو صـنایعـو کې فـعالیت کوي متمرکز کیـږي. نومــوړی بانک د کـثـیرالـمتنـوع پورونــو کیفیــت نه جوړوي او خپــل ځـان د ډ یـرخطــر په وړانـدي ورکــوي. ولې له بل لیدلوري څخه په ځانګـړو پورونو باندې تمرکز، د کار تخصص در لودل صحیح دي. د مسالې شــتون (نامناســبه انتخاب) دا ایجابـوي چې بانک هغه شرکـتـونه چې د خطرناک ریســک درلـودونکې دي له نورو شرکـتونو څخه بېـل کړي. د بانک لپـاره د اطلاعاتو راټـولونه د نورو شرکـتـونو په هکله د محل تـفـکیک آســانه دی. کولای شي د هغوی د اعتبار میزان له لرې شرکتونو سره په پرتله کې یو څه راحت تا کي، او په همدې ترز پور ورکوونکی بانک د تمرکز له لارې په یوه ځانګـړې موخه کولای شي د نوموړو سر چـینو په هکله ښه خبرتـیا ترلاسه کــړي. او په همــدې د لـیـل د دې وړانـد ویـنـه چې کوم او څو شرکـتـونه به په هغه خپله ټا کلې نېـټـه د پورونو په ادا کولو وتوانیـږي یو څه آسانه ده.

**پرفعالیتونــو باندې نظارت:** هر هغه وخت چې د پور در خواســت کوونکی شــخص یا شرکــت د پور له اخســتلو څخه وروســته په مخاطــره آمېـزه کړنو لاس پــوري کوي او په نتیـجه کې نشې کولای په ټا کلې نېـټــه د پور بیا ورکړه ترسره کړي. بانک د اخلاقي خطرد مخنیـــوی لپـاره بایـد د پور په قرارداد کــې بندونه اوقـیـدونه باید ورځای کړي چې د پور اخیـســتـونکې له مخاطره آمېـزه یا ریسک څخه له ډ کو فعالیـتونو څخه منع کړي۰ بانک د پور ورکوونکیـو شرکتونو پر فعالیت باندي د نظارت له لارې دا درک کوي چې آیا شرکت د پورد قرارداد مفاد اجرا کوي او که نه ؟

د اطلاعاتــو او د پور اخســـتونکو شرکتونو پر فعالیتونو بانــدي د نظارت راټولونه دغه مســئـله روښــانه کوي چې موفـق بانکونه ولې درانه مبلغونه د اطلاعاتو او حساب رسۍ د راټولونې لپـاره صرفوي.

**لــه پېـرودونکــی سره اوږد مهالــه اړیکې:** یوه بله لاره چې بانــک و کولای شي له پور اخـسـتونکې شخص څخه یو څه اطلاعات ترلاسه کړي دا ده، چې له پېـرودونکې سره اوږد مهالــه اړیـکې ټـینـګې کړي چي همـدغه د اعـتبـاراتو دریســک مدیریت له مهمو اصولو څخه ګڼل کیـږي.

کــه چیـرې د پور درخواســت کوونکی پــه هغه بانک کې د روان حســاب یا پس انداز درلودونکی او یا دا چې په یوه اوږد مهاله دوره کې یې له دې بانک څخه پور اخیستی وي د اعتباراتو د دایـرې مســئـول کولای شي حسابونوته د مراجعې او سوابقو له لارې ډېـر ښه اطلاعات ترلاسه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د روان حساب ګردش اود پور د درخواست کوونکي د پس انداز حساب کولای شي د دې په اړه په کوم وخت کې او د کال په اوږ دو کې نغدو پیسو ته اړتیا لري او بل داچې د شتمنیو نقد کېد ونکی قدرت او د هغه با القوة توان څومره دی د بانک د مسؤل په واک کې اطلاعات ور کولای شي٠ د هغو چکونو څېړنه چې د پور درخواست کوونکی یې لیکلای شي د هغه د معاملې اړخونه مشخص کړي٠ که چیرې دغه شخص له شرکت سره له دې وروسته له بانک څخه پور اخیستی وي، نوموړی بانک د هغه د ور کړې په اړه ښایي ښه اطلاعات ولري. د پېرودونکې اوږد مهاله اړیکې له بانک سره د دې لامل کیږي چې د اطلاعاتو راټولوني اړونده لګښتونه کمښت و مومي٠ بانک په ډ ېر راحت سره کولای شي ترڅو له ریسک څخه ډ ک شرکتونه له ټولو درخواست کوونکو څخه ښه تفکیک کړي.

له پېرودونکې سره د اوږد مهاله اړیکو مزایا وي د دې څرګندونه کوي چې دغه روابط هم د پور د  درخواست کوونکې د شرکت لپاره ګټور دي اوهم د بانک لپاره له څو لارو څخه یوه لاره د داسې رابطې د رامنځته کیدل دي چې یاد شوی بانک د شرکت ارزانه سهامي وپیري او په هغه کې د ګټې درلودونکې شي ترڅو و کولای شي یو کس شرکت لپاره د مدیره هیئت ترعنوان لاندې ولري٠ نن صبا د امریکا په متحده ایالاتو او داسې نورو ډ ېرو هیوادونو کې د داسې قراردادونو تنظیم قانوني موانع لري، ځکه چې له 1730 لسیزې څخه ورسته بانک د شرکت په اسهامو کې له پانګونې څخه محروم کړای شو.

**د پور په ورکړې سره تعهد**

بانک کولای شي د پور درخواست کوونکې له شرکت سره اوږد مهاله روابط ټینګ کړي اود قرار داد  د تنظیم له لارې د پور په ور کړه کې متعهد اود اطلاعاتو راټولونه وکړي.

د پور له تعهد څخه موخه دا ده ترڅو بانک متعهد شي چې یو مشخص مبلغ په یوه معین نرخ (چې د بازار د ربعې له نرخ سره ارتباط لري.) د مشخصې زمانې په یوه  دوره کې د قرضې په عنوان یا یوه شرکت ته په اعتبار سره یې ور کړئ. ډېرې تجاري او صنعتي قرضې د وړاندیز شوو قراردادونو د تعهد له مخی ورکول کیږي. د شرکت لپاره د دې  ډ ول قرار داد ګټه دا ده چې د اړتیا په مهال به ښایي لازم اختیار ولرئ، چی د بانک لپاره د داسې قرار داد مزیت یازتوالی دادی چې د پور د ورکړې په تعهد سره دا ایجابوي چې شرکت په دایمي ډ ول سره د درآمد د مېزان په هکله، شتمني، پورونه او نور له همدې ډلې اطلاعاتي لارې چارې باید بانک ته ور کړي.  د پور په ور کړې سره د متعهد قرار داد تنظیم د اړونده لګښتونو د کمښت په موخه د بانک لپاره د اطلاعاتو د راټولونې خورا منا سبه طریقه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د پنځم څپرکي د مطالبو لنډيز

په دې څپرکي کې د ورځې مهم موضوعات لکه د بانکدارۍ په پروسه اويا د پانګونې په پروسه کې د زېرمو ( ذخاير) رول او د برخه والو لپاره د ګټې راوړل، سوچه ګټه د ماليات له ما تېدنې څخه وروسته د بانک د برخه والو د بيا ور کړې خطر، د بانک د اړتيا وړ پانګه او همدغسې نور د کار وړموارد يې، د پانګونې په پروسه کې ريسک، د پور په ور کړه کې د تخصص درلودلو نظارت اوڅېړنه، د متقاضيانو او شرکت لپاره د پور ور کړې پس منظر، د بانکي تصد يو پرفعاليتونو باندي کنترول او نظارت، زياته او اوږ ده رابطه له پېرود ونکو او نورو ټولو هغو اشخاصو سره چې په يوه ډول نه يو ډول له تصدۍ سره په تماس کې دي او ورسره را کړه ور کړه لري او بالاخره د پور په ور کړه کې تعهد او دزياتی ګټې لاس ته راوړل د پانکې د برخه والو لپاره ځاى په ځاى شوي. د پورته يادوشويو موضوعاتو په را خپلولو سره د بانکي تصد يو د ستونزو هغه ستره برخه تر لاسه کوو.

## د پنځم څپر کې پوښتنې

١- په بانکي تصد يو کې د زېرمو رول واضح کړئ ؟
٢- د بانکي تصدي د اړتيا وړ پانګې په هکله معلومات ور کړئ ؟
٣- د ريسک د اعتباري مديريت عمومي مفهوم بيان کړئ ؟
٤- نظارت او څارنه تعريف کړئ ؟
٥- د پور په ور کړه کې تخصص څه رول لري ويې ليکئ ؟
٦- پر فعاليتونو باندي د نظارت په اړه معلومات ور کړئ ؟
٧- څرنګه کولاى شو له پېرود ونکو سره اوږد مهاله رابطه ټينګه کړو ؟
٨- د بانکي تصدي لپاره د پور په ور کړه کې تعهد څه ګټه لري ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شپږم څپرکی

## بانکي نظامونه

**ټولیزه موخه:**
د بانکونو د ماهیت او بانکي نظام پیژندنه.

**د زده کړې موخې:** محصلین باید د دې څپر کې په پای کې لاندي موضوعات توضیح کړای شي:

- غیر متمرکز بانکي نظام
- متمرکز بانکي نظام
- اسلامي بانکي نظام

### بانکي نظامونه

تراوسه پورې د بانکې نظامونو په باب کم معلومات شتون لري.
او په عمومي ډول سره له دې عمده اصل څخه یا د ونه کیږي.
بانکي نظام په حقیقت کې د اصولو، قوانینو، مقرراتو، لایحو او کړنلارو مجموعه ده چې د بانکي کړنو په چوکاټ کې امکان لري.

داسې فکر کیږی چې بانکي نظامونه کولای شو په پینځو برخو وو یشو:

**۱)** غیرمتمرکز بانکي نظام
**۲)** متمرکز بانکي نظام
**۳)** سوسیالستي بانکي نظام

(c) ketabton.com: The Digital Library

٤) مختلط بانکي نظام
٥) اسلامي بانکي نظام

**۱- غیرمتمرکز بانکي نظام:** د یا دونې وړده چې د بانکدارۍ پیل د غیر متمرکزې بانکدارۍ له نظام څخه شوی دی. څرنګه چې په اقتصا دي پرمختګ او وده کې د بانک تولید یو سترخو ځښت منځ ته راو ړي او د لومړي ځل لپاره نړۍ د پانکونې خورا مطمئنې سرچینې و مونډې. او له همدې امله ډ ېرى له هغوى څخه چې د داسي سترې پد یدې د ایجاد توان یې درلود نو یې د هغو په ایجا دولو لاس پورې کړ. ځکه چې دې پد یدې کولای شول په ډ ېره کمه موده کې غیرقابل تصور ګټه منځ ته راوړي.

د کار په لومړیو کې هر چا کولای شول پرته له کوم ممانعت څخه د بانک په ایجا دولو لاس پورې کړي. نوله همدې امله بانکونو په وړو پانګونو لاس پورې کړ. او یو لوی انقلاب یې را منځ ته کړ. دغه بانکونه وو چې یې کولای شول د بانکنوټونو په نشرولو لاس پورې کړي. او یو څه سیکې په بازار کې په نهایته ضعیفو قانوني محدود یتونو وړاندي کړي. د بانکي نظام په لومړیو کې کوم مهم اصل چې مطرح و، د بانکونو تعداد اود فعالیتونو محدودې ساحې د پانګې کوچینوالې ته په کتو سره په لاس کې درلودل. او هیوادونه وروسته په دې باوري شول چې د بانکونو تعداد په کوچنیو پانګو سره نشې کولای د ودې او توسعې په حالت کې اقتصا دي غوښتنوته ځواب ویونکې و اوسې. اوله دې اصل څخه په پیروي سره په دې لته کې شول، ترڅو د بانکونو له تعداد څخه مخ نیوی وشي. اوښه ډ ېره پانګه د بانکونو د محد ویت په تعداد کې را ټوله کړي. خو دې اصل بانکونه متضرر نکړل او حتّی د هغه په تقویت او پیا وړتیا کې یې کوښښ وکړ. او بانکونو په دې نظام کې د مارکېټ له اصل سره سم خپل فعالیت ته ادا مه ورکړه. د یادونې وړ ده چې خصوصي سکتور په دې بانکي نظام کې مخکښ ؤ.

- رقابت په دې نظام کې یو جوړوونکی اصل دی.
- د قاتلا نه رقابت مخنیوی د قوانینو په واسطه صورت مومي.
- په دې نظام کې مرکزي بانک یوازې ار شا دي رول لري.
- په دې نظام کې خوصوصي بانکداري داساسي قانون په واسطه تضمینیږي.
- مرکزي بانک په بازار کې مدا خله نکوي مګر دا چې ملي منافع په خطر کې وي.

نن سبا دغه نظام د نړۍ خورا وسیع نظام منځ ته راوړى دى. څرنګه چې بانکداري له داخلي سطحې څخه هم اوچت ګام ایښی او نړیواله شوی ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۲- متمرکـز بانکي نظام:** له غـیـرمتمرکز بانکـي نظام څخه را وروســته متمرکز بانکـي نظام خپلــې کړنې د امکان ترحده پورې څرګندیږي او ډګر ته را ورانـدي شــو، او دا حقیقـت ښیې چې متمرکز بانکـداري نظام د غـیرمتمرکز بانکـداري نظام په مرحله کې او د بازار د اقتصادي نظام په چوکاټ کې زیږ بـدلی دی، په داسي زمانه کې چې سوســیا لیســتي اقتصا دي نظام لا زیږیـد لی هـم نه ؤ.

د متمرکــز بانکـــي نظام سوســیا لیســتي ډول د ملکیــت په تفــاوت سره یعنې دولتي بانکـداري وړاندې کوي په داســې حال کې چې په متمرکز نظام کې د بازار یا مارکیټ نظام رد او د دولتـــي بانکـداری د ملکیــت نفي اود دولتي بانکـداریو کره فعالیتونه مطرح دي د هغې بانکـداری په څنګ کې چې د مختلـطو اقتصادي بنسټـونو په اساس ولاړ دي.

**۳- سوســیا لـیـستي بانکـداري:** سوسیا لیستي بانکـداري له سوسیا لیستي سنـتي بانکـداري څخه چې نن په یوه دا ستـان پورې تړلې ده پـیـل کوو.

د متمرکزې بانکـدارۍ په نظام کې د خورا سوچه بانکـداري بنسټ د شوروي اتحاد په وخت کې ایـښودل شوی دی، او د پام وړ وده یې وکړه او ضمناً یې د دې نظام په چوکاټ کې ښې کړنې ترسره کړې.

د بانکي نظام دغه ماتې د بانکي عملیاتو د ښــه کار له نـشــتـوالې څخه نه وه، بلکه د اقتصادي، اجتماعي، سیاسي نظامونو د تیت او پرک کېـدو په اثر د هیـواد په سطحه سره او د سوسیالستي نړیواله سیستم په سطحې سره ؤ سوسیالستي متمرکزې بانکـدارۍ د 1917 کال د سترانقـلاب له بریا څخه وروسته را منځته شوه او له انقـلاب څخه وروسته یوازې د وومیا شتو په اوږدوکې ټول هغه بانکونه چې ترهغې ورځې پورې د خصوصي بانکونو په ډ ول ادا ره کیـده ملي شول. او د دولت په واک کې راغلل. دولت د بانکي چارو د اداري لپاره دولتـــي بانــک چې د دولتي بانک په نامه یا دیـده منځ ته راووړ. او له هغه څخه وروســته خصوصًا له 1931 کال څخه وروسته د نورو تخصصي بانکونو په ایجا دولو یې لاس پوري کړ.

**دولتي بانک**

ددی بانــک د رامنځتــه کیدو علت دا و، تر څو یوه داســې مؤسســه رامنځته کړي چې وکــولای شي د مرکــزي بانک ټولې دندې له ټولو اړخونو سره پداســـې ډول لکه غریبانو چې ځینې کار اخیست پر غاړه واخلی. او تریوې اندازي پورې د سوداګریزو بانکونو دنده، د پس انداز صنـدوق او د مالیې وزارت له دنـدو څخه یې یوه برخه پرمخ وړه.

د پورتنیو اهدافو په پام کې نیولو سره دولتې بانک را منخته شو. او په نړۍ کې د سوسیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیسـتي لومړنی بانک په صفت په تازه، نویو او عجیبوکړنو سره د بانکـدارۍ نظام اود پولي جریاناتو د تنظیم اوهم د اقتصا دي فعالیتونو میدان ته یې را و دا نګل.

**د دولتي بانک دندې عبارت دي له:**

- د بانګنوټونو د خپریدو بانک.
- د لنډ مهاله کریـد تونو ور کړه.
- د ټولو هغو تعـمیراتو تمویلول چې د دولت لپـاره یې حیاتي رول درلود.
- د بزګرو لپـاره د اوږد مهاله اعتبار ور کړه.
- د مرستنـد و یو مؤسساتو لپاره د اوږد مهاله اعتباراتو ور کړه.
- په ځانګړې توګه په کلیو او بانډو کې د استوګنې د برابرولو د اعتبار ورکړه.
- د دولت د عوایـد و د ننوتلو محل او دولتی ورکړې.
- د مؤسساتو په معاملاتو باندې نظارت.
- دې بانک یوعمومي رئیس درلود.
- دې بانک 250 زره کار مندان درلودل.
- دغه بانک د نړۍ او مخکني شور وي اتحاد له خورا عمده مؤسسو څخه ګڼل کېـده۰ په 1961 ز-کال کې د پانګونې بانک د زراعتي، سوداګریزو او ښار والي بانکونو په بدل کې منځ ته راغی.

**د دې بانک خورا مهمې د ندې عبارت وې له:**

- ښـار والي
- صنعتي واحد ونه او سوداګریزې مؤسسې
- د لنـډ مهاله او اوږد مهاله کریـد تونو اجرا او سا ختماني مؤسسې
- په ښارونو کې د استوګنې په موخه مرستندویه شرکتونو ته د اوږد مهاله پورونو اجرا کول.

**بهـرنی سوداګریز بانک:**

- دغه بانک به د بهـرني تجارت په برخه کې فعالیت کا وه.
- د بهـــرني تجارت په هکله کار چـــې له اویا هـیـوادونو څخه یې ډېـر هـیـوادونه په بر کې درلودل.
- د لا زمو لارو چارو تهیه کول له نورو هـیـواد ونو سره د مرستې د اجرا په خاطر.
- د بهـرني تجارت د مال تأمیـن.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴- **مختلطه بانکداري:** د دې نظام په هکله ډ ېرى هغه کسان چې مختلط اقتصا دي نظام نه مني منفي نظريات لري هغوى دغه نظام د آزاد بازار د نظام اړو نـده بولي.

مختلط بانکـداري نظام د آزاد بازار له قيد څخه را ووت او د دې نظام د شکـېـد لـيـو وا ګو په د فع ګولو کې يوعامل شو۰ په لوم‌ړيو کې رهـبـري شوي مختلط، ټولـنيـز، او اقـتصا دي نظامونه منځ ته راغلې او اقـتصا د يې په جـدّى رهبـري کې را ووست.

په هغې زمانې کې د هند، پاکسـتان، ماليزيا، مصر، سـوريې عراق ، افغانسـتـان او په همدې ډ ول نورو هيـوادونو لاره پـيـدا کړه.

په حقيقـت کې مختلط نظام د بازار نظام ته د رسېدلو لپاره لومړنى ګام دى، او خصوصًا په پرمخ تـلليو هـيـوادونو کې وي دغه نظام کېداى شي په لانـدو بېلګو سره تمثيل کړو:

- په دې نظام کې رقابتي بانکـداري په مناسب ډ ول سره تـنظميـږي.
- دولتي بانکونه د خصوصي سکتور د بانک په څنګ کې فعاليت کوي.
- خصوصي بانکونه د ملي منافعـو له موخو سره سم رهبري کيـږي.
- پــه ځانګـړو حالاتو کې د خصــوصي بانکونو فعاليتونه د مرکــزي بانک له لورې پرمخ بيول کيـږي.

بايد ووايـو چې دغه بانکي نظام کاملاً د اقتصا دي او اجتماعي نظام اړونـده نه ده.

۵- **د اســلامي بانکـدارۍ نظام:** د لومړي ځل لپاره په 1363 هجري قمري کال کې د ايـران اســلامي بانکـداي نظام منځ ته راغى ، او د هغوى د رژيـم له جوړښــت او ماهيت سره سم د اسلامي بانکـداري نظام طرح ريـزي شو.

په اسلامي بانکدارۍ کې هـر هغه څه مونږ په بانکي عملياتو کې مطالعه کړل او په ټو لــه نړۍ کــې معمول دي تر سره کيږي، خو د بانکي کړنو يو ډ ول چې په مفاد باندې ولاړ دى او څرنګــه دغــه هـدفونو چې د بانکي د وه کونو هـد ف لــه جملې څخه ګڼل کيـږي ترلاسه کيـږي.

معمول بانکي تفاوت په اسلامي بانکي نظام اونورو بانکونو کې متـما يز کوي.

اسلامي بانکونه خپلې ټولې کړنې له شريعت سره سمې برابر وي.

د شريعت له اصولو څخه هر ډ ول تېـرى بانکـداري ور انوي او خرابوي.

پــه اســلامي بانکـدارۍ کې د بهـرنې کلمه له تطـبيـقــي اقتصا دي قا موس څخه حزف شــوي ده او په عوض کې يې د کار، مزد او سود کلمه تضمين شوي او استـعما ليـږي. ټولې اسلامي بانکي معاملې د اسلامي مسايلو په نظر کې درلودلو سره شونې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

روانه قرضه حســنه چې له بانکي عملیاتو څخه کاملاً د غـیر اســلامي بانکونو د جاري حساباتو معاملا تو ته ورته ده٠ پېـرودونکې کولای شي چې د چک له مخې يې واخلي.

د پس انداز قرضه الحســنه چې د بانکي عملیاتو دغه شــکل په دې اړه هـم لکه د تېـر په شان ده.

د غـیر ثابـتـو نقـدي یا جنسي جوایزو ورکړه د کار له ورکړې څخه د سپارونکو تخفیـف یا معافیت مزد یا حق الوکاله هـم د یادونې وړ ده.

او همـدا شان له خلګو څخه میعادي امانات بانک ته د منـلو وړ ګرځي.

په دې اړونـد بانک و کیل دی. اوله دغې پانګې څخه د مشــارکت ، مضاربت ، اقساطي معاملات مســـتـقیمې پانګونې، اجاره د تملک په بڼـه او د اســلام له عـقـودو څخه داســې ځینې نور تر استفادې لانـدي را ځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د شپږم ټپرکي د مطالبو لنډيز**

د دې کتاب په شپږم ټپر کې کې لانـدې موضوعات په ځُلص ډ ول سره برابر کړل شوي دي:

۱- د غيــر متمرکزه بانکدارۍ نظام يا د آزا دې بانکدارۍ نظام چې د بانکدارۍ پيـل له همدې ځايه پيـل شـوی دی، او تر ننه پورې په نړۍ کې ور ځخه په پراخه ډ ول استفا ده کيږي.

۲- د متمرکـز يا دولتي بانکدارۍ نظام ۰ دغـه نظام د غير متمر کزې بانکداري نظام په د نـنـه کې و ده موند لې. او د۱۹۱۷ کال د اکتوبر د ميا شـتې له انـقـلاب ځخه وروســته يې په فعاليت پيـل وکړ اود مخکـني شــور وي اتحـاد د ړنګيـدو په اثر له منځه ولاړ.

۳- د اســلامي بانکدارۍ نظام چې د لومړي ځل لپاره په 1363 کال د ايران په اســلامي جمهوريت کې طرح ريزي شــو او له اســلامي شريعت سره سـم فعاليت کوي، او له اســلامي شريعت ځخه تيـری د دې نظام د بانکداري فعاليتونو مخالف دی۰ او زمونږ په هـيـواد کې دې نظام نوی په فعاليت پيـل کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د شپږم څپرکي پوښتنې:

۱- څو ډوله بانکداري نظامونه پېژنئ نومونه يې واخلئ ؟
۲- لومړنی بانکداري نظام کوم نظام دی شرحه يې کړئ ؟
۳- د متمرکز يا دو لتي بانکداري نظام په اړه معلومات ور کړئ ؟
٤- د ولتي بانک په کوم ځای او په کوم کال تائسيس شو ؟
۵- مختلطه بانکداري څه ډ ول بانکداري ده شرحه يې کړئ ؟
٦- اسلامي بانکداري د لومړي ځل لپاره په کوم هيواد کې منځ ته راغله نوم يې واخلئ ؟
۷- د اسلامي بانکدارۍ د فعاليت نوم واخلئ ؟
۸- آيا زمونږ په هېواد کې اسلامي بانکداری وجود لري ؟
۹- سوسيا ليستي بانکداري څه ډ ول بانکداری وه آيا مؤثريت يې هم درلود ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اووم څپرکی

## په افغـانـسـتـان کـې بانکـداري

**ټولیزه موخه**

په افغانستان کې بانکـداري، پـړا وونه ، لاس ته راوړنې.

**د زده کــړې موخې:** د دې څپـرکې په پای کې محصلیـن باید لانـدې موضوعات توضیح کړای شي:

١- په افغانستان کې د بانکـدارۍ عمده پـړا وونه
٢- د هـیواد د بانکونو لاس ته راو ړنې
٣- د پـولي سیـا ستـونـو ترتیب او تنظـیـم
٤- د بانکـونو موخې زده کړې

### په افغانستان کې بانکـداري

په افغانســتان کې بانکـداري کولای شو په لاندې پـینځو بنسټـیـزو پـړا وونو تـقـسیـم بندي کړو.

په افغانستان کې بانکـداري اوږ ده مخینه لري او په بریالیتوب سره تر سره شوي ده او په سیاسي شخړو کې یې لاس او پنجه نرم کړې او ځینې وخت تر برید لاندې هم راغلی دی.

لومړۍ مرحله: له 1932 څخه تر 1952 میلادي پورې.
دویـمـه مرحل: له 1952 څخه تر 1978 میلادي پورې.
درېیـمـه مرحله: له 1978 څخه تر1991 میلادي پورې.
څلورمه مرحله: له 1991څخه تر2001 میلادي پورې.
پنځمه مرحله: له 2001 څخه تر اوسه پورې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**لومړۍ مرحله:** د کار د پیل لومړۍ مرحله ده او هیواد د لومړي ځل لپاره د بانکدارۍ په لار کې ګام او چټوي او په هغه زمان کې دا حرکت پخپل ذات کې یو لوړ اخلاقي جرأت ګڼل کیده، چې د یوه لوړ او اقتصاد پوه شخصیت جناب محترم زابلي صاحب په واسطه یې بنسټ کېښودل شو، ملي بانک په پیل کې په خصوصي بڼه منځ ته راغی او له زیا تو داخلي غبرګونونو سره مخ شو ډېری خلکو دغه ځای د سود اخیستنې او سود ور کړې په صفت پېژانده او ډ پرې ستونزې یې په دې لار کې ایجاد کړې. له هر ډول شوراو غوغا سره سره بیا هم دې بانک ډ پرښه کارونه ترسره کړه او بانک د پانګونې ډ پرګټور کارونه پرمخ یو وړل. که څه هم په هغه وخت کې د مرکزي بانک په نامه کوم بانک شتون نه درلود دې بانک د مرکزي بانک رول په ډ پره ښه طریقه سره تر سره کاوه او د هغه وخت ټولې پولي او بانکي معاملې یې تنظیمولې اود دولت پولي سیا ستونه یې ترتیب او اجراء ته وړاندې کول.

ملي بانک د هیواد د بانکنوټونو د خپرولو لومړنی بانک دی چې د هغه وخت د دولت په لار ښوونه یې د پیسو په خپرولو لاس پوري کړ.

دغه بانک د الماني بانکداري د بنې په اساس جوړ شوی، او د فعالیت په لومړنیو ورځو کې جرمني بانکدارانو له نوموړي بانک سره مرسته او یاري کوله. ملي بانک تر 1957 میلا دي کال یعنې تر خپل ملي کېدوپورې یې د خپل خصوصي والې موقف وساتو. په دې مرحله کې دوخت د اوضاع په نظر کې د رلودلو سره اود دولت د بانکدارۍ په اهمیت سره یې د مرکزي بانک په ایجا دولو لاس پورې کړ او له همدې امله په 1939 میلا دي کال په هیواد کې د افغانستان بانک تأسیس شو، او مرکزي بانک ته له ورکړل شویو دندو سره سم ځینې هغه دندې چې به ملّي بانک ترسره کولې په دې بانک پورې یې اړه ونیوه.

له همدې څخه وروسته په هیواد کې د افغاني نوټونو خپروونکی د افغانستان بانک شو. او د دولت د سیاستونو د تطبیق له عمده عاملینو څخه وګڼل شو.

**دویمه مرحله:** د یوې مودې له تېرېد و څخه وروسته د ویمه مرحله پیل شوه ، په دې مرحله کې د هیواد د اقتصاد لپاره د د ریو اړینو بانکونو په جوړولو لاس پورې شو.

په 1948 کال کې د ګروۍ او تعمیراتي بانک په 1954 کال زراعتي بانک او په 1959 میلادي کال کې پښتني تجارتي بانک تأسیس شو. دریو واړو بانکونو د افغانستان په اقتصاد کې څرګند ښکاره او د پام وړ خدمتونه تر سره کړل.

د زراعت په سکتور کې د زراعتي بانک خدمات په ځانګړې ډول د زراعت او اصلاح شویو تخمونو په مکانیزه کولو کې خورا ستر رول لري. او دغه بانک کولای شو د زراعت

(c) ketabton.com: The Digital Library

د توسعې له عاملونو څخه یوعامل وګڼو. صنعتي تعمیراتي او رهني بانکونو هـم هـمدا راز پـخپـل وار سره ښه خد متونه تر سره کړي.

د ودې په همـدې مرحله کې په هغې زمانې اقتصا دي مطلوبیت باعث د دې وګرځېده چې دولت تصمیم ونیسي چې یوبل سـوداګریز بانک منځ ته راوړي. او په هـمدې ترتیب د صا د راتو د انکشـا ف بانک په 1976 میلا دي کال کې یې بنســټ کیښودول شو. او بانکي سیسـتـم منـځ ته راغی چــې تر ډېـره وخته یــې فعـالیت کاوه٠ دې بانــک د 100 ملیونو افغانیـو د پانګې په درلودلو سره په کار پیل وکړ.

اود نومــوړې بانک پانګه په لاندې یا دو شــویو فېصد یو سره په لانـدې ارګانونو پورې اړه د رلوده:

- ۳,۳% د قره قل اتحادیـه
- ۳,۳% د مېـوې د صادراتو اتحادیـه
- ۴,۳% د غا لیـو د صادروونکو اتحادیـه
- 10% د افغانستان د صنایـعـو او تجارت او تا قونه
- 80% د تـقاعـد خزانه او 1386 کال په پـښـتـني بانک کې مـدغـم شو.

**درېیمــه مـرحله:** دغه مرحله د افغانســـتان د بانکـدارۍ په تاریخ کې د ســخـتو او سـتـونـزمـنو کلونو بـیـا نـوونکې ده٠ د دې لامل دا وه چې په دې کلونو کې ډ ېـرى غـربي هـیـوا دونو له افغانســتان سره خـپلې اړیکې و شــلولې او د هیـواد د صا د راتو او وارد اتو بازارونه بند کړل شول.

د هـیـواد د اقـتصاد نـیـښـلېـدل په سوسیا لیستي هـیـوا دونو پورې له نښلیدو سره سم له ګڼو ستونزو سره مخ شو، او له بل اړخه د پولي او بانکي مفـکورو تـښـتـېـد نه د دې لامل شــوه چې دغه ســکـتور له یـوې فاجعې سره مخ شي خو له دې ټـولو ســتـونـزو سره سره دغه ســکـتور له پـښــو ونه لوېـده او خپـلو فعالـیـتـونـو ته یې تـر خپـله وسه پـورې ادامه ورکړه ، او حتّی په ځیـنـو موارد و کې یې بریا وي هــم تر لاسه کړې. په دې اړه د یا د ونې وړ موضــوع د بانکــي پـورونو عدم وصول دی چې د پـانګه والو ډ ېـر تعـداد ډ ېـرى بانکي کریـد تونه پرته له تصفیې له ځان سره یوړل او دولت یې له جدي ستونزو سره مخ کړ، چې همدغه موضوع تراوسه پورې د تـېـر په شان باقي پاتې ده.

**څلورمــه مرحله:** څلورمه مرحله د دوو عمده فازونــو درلودونکې ده چې په تـدریج سره تېزه شوې تر دې پـورې چې د بانک ستونی یې د ومره په زور کـېکـیـښ چې ساه یې وو تلـه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې وخت کې وروسته له ډېرې مودې څخه د ګلاب الدين شېرزائ اسلامي بانک د خصوصي بانک په بڼه منځ ته راغی٠ خو دې بانک و نه شواى کولاى ترڅو يوڅه وکړي بالاخره له سقوط سره مخ شو.

په دويم فاز کې بانک کاملاً سقوط وکړ او ټول بانکي فعاليتونه له ماتې سره مخ شول. په هغه وخت کې د بانکونو حالت دومره بد شو چې ان د خپلو کار کوونکو د حقوقو تر عهدې هم نشواى وتلاى. او د بانک ټولې شتمنۍ خورا کمې او ټيټې د رجې ته نږ دې شوي.

**پنځمه مرحله:** په دې مرحله کې د هيواد بيا رغا ونې بانکونه هم پخپل غېږ کې و نيول. او ټول بانکونه د بانکي بيا رغاونې تربرنامې لاندې راغلل٠که څه هم ځينې بانکونه له منځه ولاړل يا منحل اوياهم مدغم شول.

**د دې مرحلې ځانګړتياوې:**

- بانکي لنډ فکريو ته بايد د پاى ټکی کېښودل شي.
- خصوصي بانکونه بايد ډېر شي.
- د ولتي بانکونه بايد بيا و څېړل شي.
- هغه تعداد بانکونه چې مثمر فعاليتونه يې تر سره کړې دي بايد له منځه ولاړ نشي.
- بهر نيو بانکونو ته بايد اجازه ورکړل شي ترڅو په افغانستان کې پانګونه وکړي.
- سالمه بانکي سيالي يا رقابت بايد تشويق کړل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د اووم څپرکي د مطالبو لنډيز**

په دې څپر کې  کې په افغانســتان کې د بانکـدارۍ پـړا وونه ياد شــوي دي او دغه پـړا وونه عـبـارت دي له:

- لومړى پـړاو چې له  1932 څخه پـيل او په  1959 باندې ختـم شويدى.
- دويمه مرحله چې له 1959 څخه پـيل او په  1978  باندې ختميـږي.
- درېيم پـړاو چې له  1978 څخه پـيل او په 1991 باندې ختميـږي.
- څلورم پـړاو چې له  1991  څخه پـيل او په 2001 باندې ختميـږي.
- پنځمه مرحله چې له 2001 څخه پـيل او تراوسه پورې ادامه لري.

په دې څپـرکې کې د پانګې برخه نظر فـېصدۍ ته په اړونده ارګانونو پـورې يا ده شوي ده او هـمدا شـــان د بانکونو موخې، د بانکونو بـيا رغاونه او په افغانســتان کې د خصوصي بانکونو ايـجاد او د هغوی رول په  بيارغاونه او استخدام کې توضيح شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د اووم څپرکي پوښتنې:

۱- په افغانستان کې بانکداري څو مرحلې وهلې دي نومونه يې واخلئ؟
۲- په افغانستان کې لومړنی بانک کوم بانک دی او په کوم کال يې بنسټ ايښودل شوی دی؟
۳- د مرکزي بانک د ندې او د تأسيس د کال نوم يې واخلئ؟
٤- په افغانستان کې لومړنی اسلامي خصوصي بانک په څه نامه وه نوم يې واخلئ؟
٥- د رزاعتي، تعميراتي، صنعتي او صا دراتي بانکونو موخې څه شی دي نومونه يې واخلئ؟
٦- زمونږ د ټولنې په اقتصاد کې د خصوصي بانکونو رول څه ډول دی تشريح يې کړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اتــم څپرکی

## عـمـومـيـات

**ټوليزه مـوخـه:**

د يو لـړ پاڼو او بانکي اصطلاحاتو د جمع بندۍ څپرکی دی.

**د زده کــړې موخې:** د دې څپرکې په پای کې محصليـن بايد د لاندي موضوعاتو تعـريف او تو ضيح وکړای شي:

- لـتـرآف کرېـدت
- چک
- بـرات
- سفـتـه
- معلوماتي تـکـنا لـوژي، بانکي اصطلا حات، او اقـتـصاد
- د سنجش او قرضې د شـتـمـنيـو صنف بندي

### د لـتـرآف کريـد ت اعـتـبار پـاڼـه

هغه ســنــد چې معمــولاً د يوه بانک له لــورې صادريــږي او صادرونکــی په هغه کې مـوافـقـه کوي ترڅو حوالي له ټاکـلـو شرايطـو سره ســم په ســنــد کې ومنې او د اعـتـباري حســاب پـورونـو ته چې مخکــې منځ ته راغلی دي معامله کــړي. د اعـتـبار پاڼې عمده ډ ولونه نســبـت هغه تعهد تــه چې صا د روونکی بانک يې کوي، او نظــر مختلفـو مواردوته يې اســتـعمال فرق کوي. اود بانک د مســؤليت او تعهـد پـربنسـټ د اعتبار پاڼو ډولونه په لانـدې ډ ول دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- ضمانت شوي اعتبار پاڼه
۲- نه فسخ کېد ونکې اعتبار پاڼه
۳- فسخ کېد ونکې اعتبار پاڼه
٤- ضمانت شوي نه فسخ کېد ونکې اعتبار پاڼه
٥- نه ضمانت شوي اعتبار پاڼه
٦- متحد المال اعتبار پاڼه
۷- مفـتوحه یا پرانیستې اعتبار پاڼه
۸- تجدید کېد ونکې اعتبار پاڼه
۹- مسافرتي یا سفـري اعتبار پاڼه

د یـا د ونــې وړ ده، چې په تېـرو څپـرکيـو کې لــه دې اعتبار پاڼو څخه د هرې يوې په اړه يا دونه شوي ده.

**چک:** هغه ليکلې حواله چې يو شخص د هغه په و سيله له هغو پـيـسو څخه چې په بانــک کــې يې لري يوڅه مبلغ را وا خلي او يا يو چا ته حوالــه ورکړي٠ او يا په بل عبارت چــک يوه ليکلې حواله ده چې معمولاً د يوه بانک د امانت ايښــود نې له لورې صادر او بانــک ته دا اجازه ور کوي ترڅو يو ټا کلی مبلغ هغه شــخص ته چې په هغې کې نومو ړې حواله وي تا د يه کړي

**سـفـته:** يوشـــې چې يوکس يې بل يوه ته د عاريت يا قرض په ډ ول ور کوي چې يوڅه موده وروسته يې بېـرته را وا خلي.

او د بانکي او تجارت په اصطلاح هغه چاپ شوي ورقه چې پور ور کوونکی د خپـل پور مبلــغ او د ور کــړې نېټه ليکي او طلب کارته يې ور کــوي٠ طلب کار کولای شي د هغه د مونـد نې وجه بل شخص يا بانک ته پـرېـږ دي.

**برات:** هغه ســند دی چې له مخې يې د پـيـســو مونـد نه يا ورکړه بل يوه ته انتقاليږي. هغه څوک چې برات ليکي او چا ته د ســتور ور کوي چې پـيسې بل يوه شخص ته ور کړي برات گېـر يا د يـږي٠ اود ماليې او تجارت په اصطلاح کې د بل کليمه د اسنادو مخـتلفـو ډ ولونو ته د ســوداگريزو مالونو د حمل او نقل پولي معاملا تو ته اړونده او د پورونو ترلا سه کولو ته يې نسبت ورکول کيـږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د پور د شتمنیوډلبندي اود هغوی د پرووېژن سنجش:**

ټول بانکونه باید خپل ځان د ربع وار په اساس د پور له شتمنیو څخه له پینځو کټګور یو څخه په یوه کټګورۍ کې چې په لاندي ډ ول پېشنهاد شوي دي صنف بندي کړي.

بانک د تصمیم نیوني په مهال د پور د شتمنیو د صنف بندۍ په ارتباط چې له پینځو کټګور یو څخه په یوه کټګورۍ کې مطرح شوي ده باید لارښونه یې وشي.

د بانکونو په ذ ریعه د پور د شتمنیو صنف بندي باید د افغانستان بانک د صنف بندۍ له تفاهم سره سم تر سره شي.

د هرې شتمنۍ په اړه د افغانستان بانک د صنف بندۍ د تصمیم تر منځ او د بانک د صنف بندۍ تر منځ تو پیر باید د هغوی تر منځ د تفاهم تابع وي. امّا د افغانستان بانک د صنف بندۍ تصمیم باید په ټولو حالاتو کې نها یې موضوع وي.

**ستنډرد یا معیاري:** یوه صنف بندي شوي شتمني د ستنډرد په حیث په عادي ډ ول ورکول کیږي۰

د خالص، سالم، ارزښت په ذ ریعه او د پور اخستونکې د ورکولو په وړتیا حمایت کیږي۰

ستنډ ر ډې شتمنۍ له نورماله کړنو څخه نماینده ګي کوي، او پرووېژنونو (زیرمو) په یو فیصد ٪۱ شامله ده.

عمومي کرېدت

۱- **د څارنې وړ:** یوه صنف بندي شوي شتمني د مراقبت په حیث په کافي اندازې سره ساتله کیږي۰ اما په باالقوة ډ ول سره کمزورې وي۰ دا ډول شتمني د یوه نه تضمین شوي کرېډ ت خطر تشکیلوي۰ امّا تحت المعیار ته صنف بندي اړینه نه بلل کیږي.

د خطر کرېډ ت ممکن وړوکی وي۰ دا ډول شتمني د شرایطو په برخه کې یا د هغې مشخصې او ضاع په اړه چې یې په اطراف کې قرار لري نه تضمین شوي تلقي کیږي.

لږ تر لږه یوه شتمني باید هغه مهال د څارنې وړ په حیث صنف بندي شي. چې د اصل قرضې د اندازې د ور کړې او ټکټانې له وخته یې لـه 31 ورځو څخه تر 60 ورځو پورې تېرې شوې وي د څارنې وړ شتمنیو بېلګې دا دي چې که چېرې اصلاح نشي د بې تد بیرې پورونې د کاري اجرا آتو په ذ ریعه تضعیف کیږي. خو د کارمند د ناتوانۍ په صورت کې د بانک پور د هغوی سم نظارت او د کاري تجربې د نه شتون او د کافي اسنادو د عدم مو فقیت په صورت کې او د اجرا وړ او یا کمزوري کنټرول په ضمانت باندې محدود ندی.

د څارنې وړ شتمني لږ تر لږه ٪ ۵ پرویژن کرېډ ت ته اړتیا لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- **تحت الـمعيار:** يوه صنف بندي شـوي شـتمنـي منحيث تحت المعيار په نه کافي ډول د ساڵم خالص ارزښـت په واسـطه او د ور کړې ظرفـيت او ياهـم د ضمانت په ذ ريعه حمايت کيـږي. په هغه صورت کې چې له هغوی څخه کوم يو هغه حمايت کړي. دغه راز يا ده شوي شتمني د متمايـز احتمال په واسطه مشخص کيـږي، چې بانک يوه اندازه خساره په هغه صورت کې چې نيمگړتياوې رفع نشي ښايي ويې مني.

لـږ تر لـږه يوه شتمني بايد هغه مهال د تحت المعيار په حيث صنف بندي شي، چې د هغه د ټکټانې او اصل قرضې د ور کړې له نېټې څخه له 60 تر 90 ورځو پورې تـېـرې شوي وې او ٪۲۵ پروېـژن کرېـد ت ته اړتـيـا لـري.

۳- **مشـکوک:** يوه صنف بندي شوي شتمني د مشـکو کې شتمني په حيث د ضعـف ټولې ذاتي نکتې چې په شتمنيـو کې صنف بندي شوي د تحت المعيار په حيث شتون لري د ځانگړو جريانونو درلودونکې دي چې د چارو ټولې دغسـې د ضعـف نکتې راټوليـږي او تصفيې لـره په بشـپـړ ډول فعلي شرايطو ته په کتو سره يې ارزښـت مطمئـن اوغـير متحمل جوړوي. که څه هم د خسـارې احتـمال د فکـتورونو په خاطر ډ يـرزيا ت تړاو لـري. د نوموړې شـتمنۍ صنـف بندي د خسـارې په حيث تخمـين شـوي ترڅو چې وضعـيت يې دقيـق مشـخص کيـږي معـلق به وي. د داسـې تړلـو فکـتورونو بـېـلگې مشـتملې دي. امّا د اکتسـاباتو په اد غاماتو سره د پانـگې نوی جوړښـت په لاس کې نيـول نوی ضمانت يا د حقـيقـي مالي پلانونو تمويل به نه وي محدود.

يوه شـتمني بايـد لـږ تر لـږه هغه مهـال د مشـکوک پـه حيث صنـف بندي شي چې د ټکـټـانـې او د اصـلي پور د مقـدار د ادا کولو له نېـټـې څخه له 91 تر 180 ورځو پورې تـېـرې شـوي وي. مشـکو کې شتمنۍ لـږ تـر لـږه د (% 50) پرويژن ( زېـرمې ) کرېـدت ته اړتيا لـري.

٤- **لا حصول:** د لا حصول په صفـت باندې صنـف بندي شوي شتمني د راټولونې غـير قابل بلـل شـوي ده او دا ډول کوچنی ارزښـت چې تداوم يې د يوې بانکي شـتمنۍ په توگه تضميـن نه لاحصول کڼل کېږي. لاحصوله صنـف بنـدي په دې مانا نه ده چې نوموړې شـتمني د نجات د بيـا موندنې له هيـڅ کوم ارزښـت څخه برخورداره نه وي. امّا سر بېره پردې چې دکوم درد دوا هم نشي کيدای، نو حذف کيدل يې بايد وځنډول شي چې شتمني بې ارزښتـه ده که څه هم د هغې يوې برخې بيا موندنه ممکن په راتلونکې کې منځته را شي. يوه شتمني لـږ تر لـږه هغه مهال د لاحصول په حيث صنـف بندي کيـږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چــې د ټکټانې او د اصل قرضې د مقدار ورکــړې له نېـټې څخه یې / 180 ورځې او یا له هغې څخه ډ ېرې تېرې شــوې وي۰ لا حصوله شــتمنۍ لـږ تر لـږه %100 فیـصده پرویـژن کریدت ته اړتیا لري.

په ســوداګریزو بانکونو کــې د پور ورکړې شرایط: کله چې ســوداګریز بانکونه وغواړي پېـرودونکــو ته وام او یا پــور ورکړي نوتر ورکړې مخکې پرهغوی بانـدې یولړ شرایط وضع کوي ترڅو د هغوی د پور پس منظر په خطر کې نه وي.

شرایط په لاندې ډول دي:

١- د پور اخـسـتـونکې نوم ، ولـد او ولـدیـت
٢- د فعالیت ځای محل او پته
٣- د فعالیت ځای د حقوقي جوړښت ډول
٤- د سوداګریز جواز پاڼې نمبر
٥- د شرکت د ریئـس او مرستیالانو نوم
٦- د فعالیت ځای غـیـر منـقـوله شتمني
٧- د فعالیت بـیـلانس
٨- د پور اخستـنې موخه
٩- د تضـمیـن کوونکې شرکت معرفي
١٠- د جایداد د قبالې وړانـدې کول چې د بانک په تضمین کې ورکول کیـږي
١١- د ټکـټا نې د تمـویـل سرچیـنې او د اخیـست شوي پور اعـا ده
١٢- د مطا لـبه شوي پور انـدازه
١٣- و ړانـد ویـل شوی ما لي پـلان
١٤- په فعا لیت ځای کې د تجهیـزاتو د نصبـولو څرنګـوالی
١٥- په کال کې د شرکت د پـلورنو اندازه
١٦- د شرکت د ریئـس او معا ویـنینـو د مقـروضیـت انـدازه
١٧- په باند نـیـو او بهـر نـیـو بانکونو کې د معاملا تـو ډ ول
١٨- ټول مالي امکانات
١٩- پر عایـداتو بانـدي د مالیاتو ورکونه
٢٠- د شرکت د صورت حساب وړانـدې کول
٢١- د مرتبـه پلان د بزنس وړانـدې کول
٢٢- هغه جایـداد چې تر بانکي تضمیـن لاندي ورکول کیـږي، باید د شرکت د ریئـس او یا معاویـنیـنو ملکیت وي.

د پورته یادو شویو معلوماتو له راټولونې څخه وروسته قرضه ښایي د متقاضي لپـاره اجرا شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**سوېفت او د استفادې طريقه يې**

د سوېفت لغت چې ټېنګ شوی دی له پورتنۍ جملې څخه دی، او د مالي بنسټونو له ډلې څخه دی چې په بانکدارۍ او نورو اقتصا دي ځانګو کې فعاليت کوي.

د دې ځانګې د ايجاد مفکوره د يوځو نوښتګرو اشخاصو په همت په 1973 ز-کال د بلجيم هېواد د برو سلز په ښار کې پېشنهاد کړای شو. او د 235 بانکونو او نورو مالي نهادونو په واسطه چې د نړۍ له ( 15) مختلفو هيوادونو څخه راټول شوي و، د حما يت وړ وګرځېده.

د معاملاتو لپاره د ځانګرو بين المللي ستنډ ردونو په چوکاټ کې، د دې کمپنۍ د تاسيس موخه د يوې بين المللي مالي عمومي ژبې رامنځته کېدل، د يوې بين المللي مشتر کې شبکې جوړول، د اطلاعاتو جريانونه او د بين المللي اړيکو شبکه د مالي مؤسساتو ترمنځ لکه بانکونه او نور داسي مالي بنسټونه وه.

ددې شبکې د ګټې اخستنې د کړنلارې اساس او نور بين المللي قواعد په 1975 ميلا دي کال طرح ريزي شول او با لاخره په 1977 کال يې په ژوندۍ بڼه د عمل په ساحه کې را وړا نګل چې لومړنی پيام د هغه وخت د شهزا ده او د بلجيم د شاهي دولت د فعلي شاه له لورې ولېږل شو. د دې سيستم معرفي کول له خورا ډېر امنيت او استفاد وي حفاظت څخه برخمن دی داشبکه وتوانېده چې له دريو لسيزو څخه په زياته موده کې دنړۍ له بيلابيلو نقاطو څخه د ګڼونکوونکو پام ځانته را واړوي. خپرې شوي احصا يې ته په کتو سره د دې سيستم د استفا ده کوونکو تعداد اضافه له اته زرو بنسټونو او په نړۍ کې له 210 هيوادونو ته رسيږي چې هر کال د 2/5 ملياردو په شاوخوا کې د نها دونو ترمنځ پيامونه لېږل کيږي او موندل کيږي.

د سويفت د استفادې طريقه: د سويفت شبکې يو سيستم معرفي کړی دی چې له نړيوالو ستنډرډونو سره مطابقت لري او يوه پېژندل شوي بين المللي وسيله ده٠ په مجموعي ډول د (999) پيا مونو په تعداد سره په دې سيستم کې پيا مونه شتون لري چې له دې پيا مونو څخه يې يو تعداد په سيستم پورې اړوند يږي او يو بل تعداد يې په استفا ده کوونکو پورې اړوند يږي. د لا اسانتيا پخاطر له پيا مونو څخه استفا ده په لاندې ترتيب ډل بندي شوي ده:

۱- د چکونو او پيرودونکو ورکړې

۲- د مال ي مؤسساتو ترمنځ نيوکې

(c) ketabton.com: The Digital Library

٣- د خزانه دارۍ مار کېټـونه، د اسعارو تبادله، پولي مارکېټـونه او د هغوی سرچېـنې
٤- لاس ته راوړنې او نقـدي اسناد
٥- د اسهامو مارکېـټ
٦- د قیمتي فلـزاتو د خزانه دارۍ  مار کـېټـونه
٧- ګرنتی او لیکل شوی اعتبار پاڼې
٨- سفـري چکونه
٩- د نقـدي و جوهو اداره او د پېـرودونکو وضع
١٠- د ګـډو پـیـا مونو ګروپ

**بانکـي او اقتصا دي اصطلاحات:**

١. مخکې ورکړه، اعانه
٢. لامل، نماینده- استازی
٣. د اسعارو بیه، پیسې، صرف
٤. د منا بعـو تخصیص
٥. د معاش ملاتړه مقرري
٦. مبلغ  میـزان
٧. شتمني
٨. پـشتوانه
٩. وروسته پاتې هیـوادونه
١٠. بـدې پـیسې
١١. تور بازار
١٢. بېـلانس
١٣. متوازنه  بـودجه
١٤. بانک
١٥. په روان حساب کې اعتبار
١٦. د حوالې  بـرات
١٧. چک
١٨. بانکي پـس انـداز

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۹. بانکي تـنـزيـل
۲۰. بانکـتوټ
۲۱. بانکـداري
۲۲. بانکي اعتبار
۲۳. د جـنس تـبادله په جـنس سره
۲٤. منـفعـت
۲۵. اقـتصادي محاصره
۲٦. قيمتي اوراق
۲۷. رونـق، جهش
۲۸. استقـراض
۲۹. بورس
۳۰. تحريـم
۳۱. ځانګه، رشتـه
۳۲. بودجه
۳۳. د بودجې توازن
۳٤. کسب او کار، راکړه ورکړه
۳۵. سودا ګريـزه دوره
۳٦. ظرفـيت
۳۷. د پانګې ضريـب
۳۸. د پانګې تشـکيـل
۳۹. په جريان کې د وجوه نـقـد
٤۰. مرکزي بانک
٤۱. ارزانه پـيسې
٤۲. تجارت
٤۳. کالي
٤٤. مشترک بازار
٤۵. رقابت
٤٦. امتياز

(c) ketabton.com: The Digital Library

٤٧. مصرف
٤٨. قرارداد
٤٩. شرکت
٥٠. له نورم څخه را پورته شوي مصارف
٥١. د سقـوط بهـرا ن
٥٢. اعتبار
٥٣. بهـران
٥٤. پـیسې، رسمي پـیسې
٥٥. ګمرکي کارونه
٥٦. پېـرودونکی
٥٧. ګمرک
٥٨. تجارتي دوران
٥٩. پور، بـدهي
٦٠. د دفاعي اوراقو پور
٦١. کسري
٦٢. د تورم ضد
٦٣. تقاضا
٦٤. امانت
٦٥. استهـلاکات
٦٦. د پـیسو لپـاره د نرخ تـنـزیـل
٦٧. مستقیـم مالـیات
٦٨. هـدایت شوی اقـتصاد
٦٩. تخـفیف، تنـزیل
٧٠. د تنـزیل د نرخ سیاست
٧١. توزیع
٧٢. د برخو ګټه
٧٣. ګمرګي حقـوق
٧٤. د ارزانه پیسو سیاست

(c) ketabton.com: The Digital Library

۷۵. اقتصادي تحليل
۷٦. اقتصادي تو سعه
۷۷. اقتصادي وده
۷۸. اقتصادي سياست
۷۹. اقتصادي رفاه
۸۰. اقتصادي علم
۸۱. تبادله
۸۲. د اسعارو کنټرول ، د اسعارو نظارت
۸۳. غيرمستقيم ماليات
۸٤. اعتباري پيسې
۸۵. مالي شتمنۍ
۸٦. مؤسسه، تصدي
۸۷. مالي
۸۸. مالي سياست
۸۹. تموجات، نوسا نات
۹۰. خارجي اسعار
۹۱. بهرنۍ تجارت
۹۲. بشپړ استخدام
۹۳. د عمومي قيمتونو سطح
۹٤. د پيسو سيستم
۹۵. د طلا د اسعارو حمايتي سيستم
۹٦. د طلا مشترک صندوق
۹۷. دولتي اسنادو قرضه
۹۸. دولتي قيمتي اوراق
۹۹. نا خا لصه درآمد
۱۰۰. غير فعاله پيسې
۱۰۱. وارداتي انفلاسيون
۱۰۲. درآمد

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۰۳. د درآمد توزیع
۱۰٤. د درآمدا تو سیاست
۱۰۵. بیمه
۱۰٦. بهره، ربع
۱۰۷. بین المللي پورونه
۱۰۸. بین المللي پولی صندوق
۱۰۹. بین المللي پولي نظام
۱۱۰. موجودي
۱۱۱. پانګونه
۱۱۲. څمکني اصلاحات
۱۱۳. سطح، میزان
۱۱٤. د عمر بیمه
۱۱۵. نقد، تازه نقد
۱۱٦. د تازه نقد دام
۱۱۷. اوږد مهاله پور
۱۱۸. عمومي یا ملّي اقتصاد
۱۱۹. بازار
۱۲۰. اقتصاد یا د تصدي اقتصاد
۱۲۱. پولي پیسه
۱۲۲. پولي نظارت
۱۲۳. پولي انقباض
۱۲٤. پولي اقتصاد
۱۲۵. د پولي مفاد یرو جریان
۱۲٦. پولي نورم
۱۲۷. پولي بې ثبا تي
۱۲۸. پولي سیاست
۱۲۹. پیسې
۱۳۰. پولي مزد

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۳۱. رهـن - ګروي
۱۳۲. اسمي ارزښت
۱۳۳. عادي قېـمت
۱۳٤. طبعي منابع
۱۳٥. د پور ورقې
۱۳٦. د پلـورنې څو اړخيـزه انحصار
۱۳۷. د پېـرود نې څو اړخيـزه انـحصار
۱۳۸. د آزاد بازار د عمليا تو سياست
۱۳۹. قـرضي لګښـتونه
۱٤٠. محصول
۱٤۱. مالکيت
۱٤۲. کاغـذي پـيـسې
۱٤۳. دايمي درآمـد
۱٤٤. سرانه عايـد
۱٤٥. پـديـده
۱٤٦. پلاني اقـتصاد
۱٤۷. پلا نګـذاري
۱٤۸. سيا ست
۱٤۹. سرا نه مالـيات
۱٥٠. قـېـمت
۱٥۱. توليـد
۱٥۲. سود، مفاد
۱٥۳. عمومي مالـيه
۱٥٤. د پـېـرودنې توان
۱٥٥. خالص
۱٥٦. کاهـش
۱٥۷. اجازه
۱٥۸. درآمـد

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۵۹. زېـرمې
۱٦۰. معاش
۱٦۱. پـلـورنه
۱٦۲. پـس انـداز
۱٦۳. قيـمتي اوراق
۱٦٤. لـنـډمهاله
۱٦۵. ټولنيز مصارف
۱٦٦. ټولنيزه بـيـمه
۱٦۷. د ځانگـړې اخيستنې حق
۱٦۸. مسكوک نقـد
۱٦۹. ساكـن اقـتصاد
۱۷۰. د قيـمتي اوراقو بورس
۱۷۱. عـرصه
۱۷۲. د اقـتصا دي فيـز پـړاو
۱۷۳. تعـرفه
۱۷٤. مالـيه
۱۷۵. نظريه
۱۷٦. د تجارت بـيلانس
۷۷۱. راكړه وركړه، معامله
۱۷۸. انتـقالات
۱۷۹. خزانه
۱۸۰. ارزښت
۱۸۱. ثـروت
۱۸۲. رفاه
۱۸۳. د رفاه اقـتصاد

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د اتم څپرکي د مطالبو لنډيز:**

په اتم څپرکي کې داسې موضوعات لکه لتـرآف کريد ت او د هغه ډ ولونه، چک، سفته او بـرات تعـريف شــوي دي. د شــتمنيـو صنف بندي، قرضه او د هغوی د پـرويـژن برخه د قرضــې په ورکــړه باندې د پـرويـژن د بـرخې اغـيـزې او د هغوی پـس منظر. د پېـرودونکو لپـاره په خصوصي، دولـتي او ســودا ګريـــزو بانکونو کې د قرضې شرايـط او عيـني جايـداد د قــرار ورکولو تر تضـميـن لاندې د کرېډتي مؤسســاتو پــه اختيار کې، په دولتي، خصوصي او ســوداګريـزو بانکونو کې د ســويفـت ځای په ځای کول او نصبول. له دې شبکې څخه د استفـادې طريـقه او د هغو پېـرودونکو لپاره د سهـولـت او امنيـت راوستل چې په بانکونو کې سر وکار لـري، ځای شـوي دي.

## د اتـم څـپـر کي پوښـتـنې:

١- لـترآف کريد ت تعـريـف کړئ ؟
٢- د لـترآف کريدت د ډولونو نومونه واخلئ ؟
٣- چک تعـريف کړئ ؟
٤- د سفتې په اړه څه پوهـيـږئ تـشريح يې کړئ ؟
٥- برات څرنګه سنـد دی تعـريف يې کړئ ؟
٦- د قرضې شتمني په څو کـتګوريـو تقـسميـږي نومونه يې واخلئ ؟
٧- پـرويـژن څه شی دی تشريـح يې کړئ ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سرچینې او اخیستنې

۱- داکتر علی جهانخانی و داکتر علی پارسایان (پ-ل ارزو و بانکداری )سال ۱۳۸۹.
۲- ماجدی تهران،علی حسن گلریز،پول و بانک از نظر سیاست گذاری تهران سال ۱۳۷۷.
۳- اسناد ارایه شد از جانب بانک جهانی.
۴- پوهنمل محمد عارف غوثی قاموس اقتصاد کابل بهار سال ۱۳۵۲.
۵-پوهندوی سید مسعود پول و کریدت مطبعه فیصل کابل بهار سال ۱۳۸۷.
۶- پوهندوی سید مسعود بانکداری چاپ خانه فرعی کابل جوزا سال ۱۳۸۶.
۷- جمله ماهوار بانک مرکزی افغانستان سال ۱۳۸۷.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ښوونيز نصاب د پراختيا د رياست پيغام

د پوهنې وزارت د تخنيکي او مسلکي زده کړو معينيت دښوونيز نصاب د انکشاف رياست د ټولنې دعيني او ښکاره ضرورت په درک کولو سره چې د محصلينو او شاګردانو د درسي کتابونو په برخه کې يې تخنيکي او مسلکي رشتې درلودې او لري يې، په لومړي سرکې يې تصميم ونيو، چې په ښوونيزو پلانونو او درسي مفرداتو باندې بياکتنه وکړي او ورپسې بيا د شاګردانو او محصلينو د درسي کتابونو د تاليف لپاره مبادرت او کوښښ وکړي. د خدای(ج) په فضل او مرحمت سره او د اداري او حسابدارۍ څانګې د ښوونکو په ميړانې او همت سره د اداري او حسابدارۍ درسي کتابونه تاليف شول تر څو په وړيا ډول د شاګردانو او محصلينو په واک او اختيار کې ورکړل شي.

د علم او معرفت له ټولو لوستونکو، علاقمندانو، د اداري او حسابدارۍ د مکاتبو له ښوونکو، ګرانو شاګردانو او د تخنيکي او مسلکي زده کړو د چارو له متخصصينو او همدا شان له ټولو څېړونکو او شنونکو څخه صميمانه هيله کيږي، چې د دې کتابونو په مطالعې سره چې په لومړي ځل د ښوونکو او د اداري او حسابدارۍ څانګې د مسلکي غړو له لوري تاليف او تدوين شوي دي. د مسلکي، تخنيکي او علمي مطالبو او مفاهيمو د څرنګوالي په هکله خصوصاً د هغوی املايي او انشايي اشتباهاتو په اړهمونږ ته لارښوونه وکړي، ترڅو په راتلونکي کې وکړای شو، په همدې او نورو برخوکې ګرانو شاګردانو ته له دې څخه ښه، غوره، ګټور او ارزښتناکه موضوعات وړاندې کړو.

همدا شان له ګرانو شاګردانو او محصلينو څخه هيله کوو ترڅو د دې کتابونو د مطالعې او استفادې پر مهال د هيواد اقتصادي ستونزې، فقر او وروسته پاتې والی په نظرکې ونيسي او د کتابونو په ساتنه کې کوښښ او زيار وباسي، ترڅو د ډېرو شاګردانو او محصلينو د ګټې وړ وګرځي.

پته: دپوهنې وزارت – دتخنيکي او مسلکي زده کړو معينيت د تعليمي نصاب د انکشاف رياست – دکتابونو د تاليف او د درسي ممدو موادو د برابرولو عمومي مديريت.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**